پرله پسی لمبر: (۱۵۳)

# خیالی دنیا

د

قیام الدین «خادم»

منثور اشعار

پښتو ټولنه

د طبع شمیر : ۱۰۰۰

د چاپ نیټه : وری : ۱۳۳۹



پښتو پالونکی پښتون پادشاه



# دخیالی دنیا د مضمونونو فهرست


| | |
|---|---|
| ۱ - زماسوال دادی | اول مخ |
| ۲ - په محشر کښې | « ٦ |
| ۳ - دخیال په عالم کښې | « ۷ |
| ٤ - طلائی زنځیر | « ۸ |
| ٥ - طلسمی ښار | « ۱۱ |
| ٦ - ای دخیبر غرونو | « ۱۳ |
| ۷ - ارمان او پښېمانی | « ۱٥ |
| ۸ - ماکره مه رائحه | « ۱۷ |
| ۹ - دخپل هرفعل اجر | « ۲۰ |
| ۱۰ - ای دقلم خاوندانو | « ۲۲ |
| ۱۱ - مینه گناه ده ؟ | « ۲۳ |
| ۱۲ - نوې لیاره | « ۲٥ |
| ۱۳ - دآسمانونو دپورته خوانه | « ۲٦ |
| ۱٤ - ښاپېری‌ءاوشاعر | « ۲۷ |
| ۱٥ - اشرف المخلوقات | « ۲۸ |
| ۱٦ - الهامات | « ۳۰ |
| ۱۷ - نوی اکتشاف | « ۳۲ |
| ۱۸ - دژوندانه دری خوا | « ۳۳ |
| ۱۹ - گلان تو لول | « ۳٤ |
| ۲۰ - قافله | « ۳٥ |

| | |
|---|---|
| ۲۱ - یوهوښیار ماشوم | ۳۸ مخ |
| ۲۲ - دامی ارمان‌شو | « ٤۰ |
| ۲۳ - اور کی | « ٤۱ |
| ۲٤ - دغوټیء زندگی | « ٤۲ |
| ۲۵ - نورهم صبرو کړم | « ٤٤ |
| ۲٦ - داوښکوارزانی | « ٤۵ |
| ۲۷ - ناکامی | « ٤۷ |
| ۲۸ - پټې اوښکې | « ٤۸ |
| ۲۹ - سیلانی مرغیء | « ۵۱ |
| ۳۰ - بندی توتی | « ۵۳ |
| ۳۱ - دستورو دنیا | « ۵٤ |
| ۳۲ - سیلاب | « ۵۷ |
| ۳۳ - دژوندانه طلسم | « ۵۹ |
| ۳٤ - خوندورخوب | « ٦۲ |
| ۳۵ - په خلکومین | « ٦٤ |
| ۳٦ - د کوتری صوفیانه ژوند | « ٦۷ |
| ۳۷ - د گلاب گل | « ٦۹ |
| ۳۸ - ای باغوانه | « ۷۳ |
| ۳۹ - ددنیا ویش | ۷٦ |
| ٤۰ - مینه نه کوم | « ۷۷ |
| ٤۱ - دماتماگاندی افکار | « ۷۸ |

| | |
|---|---|
| ٤٢ - زما نغمی | » ٧٩ |
| ٤٣ - دسفر تیاری | » ٨٠ |
| ٤٤ - یوه پوښتنه | » ٨١ |
| ٤٥ - وروستیء ورځی | » ٨٢ |
| ٤٦ - دژوندون مبارزه | » ٨٣ |
| ٤٧ - زما دعا | » ٨٤ |
| ٤٨ - زه شرمیږم | » ٨٥ |
| ٤٩ - یوه آرزو | » ٨٦ |
| ٥٠ - بدبخت خوب | » ٨٧ |
| ٥١ - دودي چم | » ٨٨ |
| ٥٢ - خوشحالی | » ٨٩ |
| ٥٣ - دمرگ سره محبت | » ٩١ |
| ٥٤ - دخپل لاسوزولانه | » ٩٢ |
| ٥٥ - دآزادیء جنت | » ٩٣ |
| ٥٦ - عبادت | » ٩٤ |

# دکتاب دورانو کلمو سمونه

| شمېر | مخ | کرښه | وران | سم |
|---|---|---|---|---|
| ١ | ١ | ٤ | سپی | سپین |
| ٢ | ٣ | ٢ | سبزدی | سرزدی |
| ٣ | ٢٠ | ١–٢ | فصل | فعل |
| ٤ | ٢٠ | ٣ | رو | او |
| ٥ | ٢٥ | ٣ | غـر | نمر |
| ٦ | ٢٧ | ١٧ | غر لتوم | نمر لتوم |
| ٧ | ٦٨ | ١١ | شوده | شوره |

بسم الله الرحمن الرحیم

دا مجموعه چه ستاسو په لاس کښې ده، خیالي دنیا نومېږي. دا مو ځکه خیالي دنیا وبلله چه «د شاعرانه تفکر دنیا» یقیناً خیالي دنیا ده! همدې کبله خلك د شاعر افکارو ته په یو بل شان نظر ګوري.

په دې مجموعه کښې چه زیات ئې «منثور اشعار» دي، زما د خیال د عالم واردات راغونډ شوي دي؛ او څه پکښې داسې اثار هم شته چه د نورو د افکارو ترجمه ده.

دا د منثورو اشعارو او آثارو ټوټې چه څنګه ما لیکلې وې، هغه شان مې ترتیب کړې یعنې کوم وخت مې چه د غونډول په کتابي صورت ئې پر ټولې کړم، نو په هماغه اصلي صورت ئې پرېښودې، لاس وهل مې پکښې لازم و نه ګڼل. مګر کومې پارچې چه اخستل شوې او ترجمه شوې دي هغو ته مې اشاره کړېده.

که خیالي دنیا د ذوقمندانو د روند نظر ځان ته جلب کړي نو دا به زمونږ کامیابي وي او د پښتو د پاره به زمونږ زیار او زحمت ځای نیولی وي!

کابل - خادم مېنه ۳۰ د ثور ۱۳۳۸ قیام الدین خادم

# زما سوال دادی

هلته دهوغه لوړ غره په لمن کښې چه سپین سرئې داسمان نیلي سقف ته ور ته کړی ، اود واورو کېزې وزې لیارې ئې د ګڼو اولوړو ونو په منځ کښې ترنیما ئی راښکته شوی ، او سپینې زنځیری لښتې یې تشکیل کړی دی.

دغه او به چه دهغې پلنې اوهوارې تپې په سر را تېرې شوې دی چه ددوه شرقی اوغربی غرو نوترمنځه ترډېره امتدا ده احاطه شویده، او دهغې په هره خوایې نری نری شر شرې جوړې کړی دی . !

دلته ددې شرشرو په هره دړه چه دزر ګونو قسمو میوه دارې ونې ولاړې دی اودد غو جنګیو په منځ منځ کښې ځای پر ځای داسې سپینې سپینې مانۍ ښکاری - چه خلک ئې د صبا د مرغانو په نغمو له خوبه پاڅېږی ، او دماښام دهوا په سړو او سپړلو کښې په ارام ویده کېږی : !

دلته چه دژمی ساړه اوداوړی ګرمی خپل شدت نشی ښکاره کولی تېر یږی - دامراضو جراثیم ددې ځای د نمر دوړا نګو اودهوا دصفائی تاب نه راوړی اوهلا کېږی ،دلته دزور لښته دچادازادۍ جګ اورمېږ په تذلل نشی راتیټو لی - د لته چه نه سرمایه شته او نه مزدور ، او نه مفت خواره خلک په خود ساخته رسوخ دچا له جیبه وړیا پیسی په خپلو غوړو او ګرمو خبرو ایستلی شی اود بالمثل احترام نه پرته نور هیڅ شی دانسان په ازادۍ کښې دخل نه کوی! دلته یوازی قطرت دی اودهغه غېږ - نه تصنع شته ، او نه تملق! «زه دغه ځای نه غواړم !»

هلته چه لوړې لوړې پخې ماڼۍ دسمندر په غاړه ولاړې دي، دسمندر لوېې لوېې چپې راځی اودهغو په پښو سبزدی او بیر ته ځی ، خلک د بې پایابه دریاب په شاد کشتیو په ذریعه ددنیاهرې خواته درومی!-

هرمازیګر زلمیان او پیغلې په مخصوص ډول او سنګار دعیش او نشاط په کیفونو مسرور ددغه بحر په غاړه دتبسمونو او خنداګانو په امواجو کښې مستغرق کښینی، او ددنیاد قایق په ناز او کرشمو شو ق او مینه پرې کوی . -

ددغه ځای خلک چه دبدامنۍ ،ظلم اوحق تلفۍ ، بېځا یـه تحقیر او کش مکش څخه کاملاً مطمئن دی، اود ګډ ګذران په یووسیع اودامنه داره سلسله کښې ژوند کوی . -

هلته چه انسان دانسان غوښې نه خوری اوهرسړی د خپل لاس په ګټلو فخر کوی ، کوم ځای کښې چه دخلکو قانون دخلکو در فاه ذمه وار اود اشخاصو له صلاحیته ډېرپورته اومحترم دی. -

هلته چه افکار آزاد دی، اوهر سړی د خپل لیاقت او ا ستعداد په مطابق ځان ته مشغله او کار پیدا کولی شی -هلته چه لیا قت داجتما عی خدمت په صلاحیت اړه لری، نه دچا اوچا په خوښه اوذوق - !

هلته چه ورځ په نمر، اوشپه په برقونو پېژ ندل کېږی او انسان د انسان په مر سته او دوستۍ ژوند کوی - هلته چه اقتدار، دخلکو دازادۍ او پیشر فت دپاره خدمت کوی او پخپلو قوی پنجو دعلم ، حق او حریت ستونی نه خفه کو ی !

«زه د غلته هم ځای نه غو ا ړ م !»

هلته چه انسا ن په ۱۲۰ پوړه جگو اسمان خراشو عمارتونو کښې اوسېږی او دسپو ږ مۍ او ستو روسره خبرې کوی ،- دبرق په زینو خېژی او کو زېږي ، په گلانو او باغونو کښې اوسی، په ځمکه ، هوا او بحر کښې دبخار په شا گرزی اودبرق په وزرونو الوزی -

هلته چه جنسیت (ښځی توب اونر تو ب) دانسا ن داستعداد دبروز او تکا مل او دارتقا ئی جدو جهد په مخکښې حائل نشی کېدی- هلته چه بې سو ادی او جهل داسی عیب گڼل کېږی لکه کفر ! - هلته چه انسان خپل مقبولیت اورسوخ دډېروزړونو په استر ضااو خوشحالۍ حاصلوی، نه په مکر ، دغااوخوشامندو ! -

هلته چه آزادی دعلم ، پوهې ، انسانی ا حتر ام او اخلا قو معنی پیدا کړ یده - هلته چه،مشران خپل کشران دوېرې ، ډاراو خوف په زور نه اداره کوی ، بلکه په محبت اومینه اوخدمت سره ئې قائم کوی؛-

هلته چه دقوة او شتو خاو ندان په بې وز لو اومحتاجانو رحم او مهربانی کوی- هلته چه حسن اوجمال ، ظرافت او نفاست خپل آخرین مراحل طی کړ ی میدا ن ته راوتلی دی-هلته چه انسان دانسان دبهترۍ فکر کوی نه دځان دبرترۍ؛ هلته چه انسان په مرض ، خو ف ، جهل اوغلامۍ غلبه کړیده اوانسان په خپل اجتما عی قو ت ا و آز اد روح دفطرت خزانې لوټ کړی او په خپله خوښه او رضا ډېرعا لی ژ وند کو ی! -

«ماته داځای هم مه را کوه آی زماخاو نده !»

هغه دنیا چه دشاعر دخیا ل نه هم وسیعه ده او هلته چه عمار تو نه دلعلو نو ، مرغلرو ، زمردو اوزبرجدودی او دبې انتها لوړ وونو هره یا نه هلتهسوو نهسازونه کوی اوخوشر نګه اوخوش الحا ن مر غان پکښې ا لوزی ، اوپری پیسکره لاله رویان ددغه ځا ی د اوسیدونکو دخدمت دپاره حاضر ولا ړوی او هلته چه څه نفس غوا ړی او په څه ستر ګی خوزیږی ټول موجو د و ی . ـ

هلته چه وزی اوموړ ،

سرمایهدار او مزدور ،

حا کم اومحکوم ،

ملت او حکو مت ،

جنګ او صلح ،

رقابت او حسد ،

ړله او حز ب ، هیڅوجود نلر ی ـ

هلته چه نه عمل شته او نهنتیجه ـ

نهڅوك لوئیږی او نه څوك وړ یږی.ـ

هلته چهنه دردمندشته او نه دسوز نـاله ـ

هلته چه نه قوم شته او نهوطن ،

هلته چه نه څوك احتیاج لری او نه حاجت رواپکار یږی !ـ

هلته چه«خدمت» بېمعنی لفظ دی.ـ

هلته چه زړه شتهخودرد به نه کوی ـ

هو، داسی زړه دی چه آرزو نه لری-

خوشحالی شته خو بې غمه-

خنداشته خو بې ژړا-

دادنیا خو ډیره رنگینه عجیبه او آرامه ده-

مگر زماسوال دادی چه-

ماته د خپل مریض، بربنډ، وزی او ناپوه قوم دمات زړه په کنډو اله کښې ځای را کړه-چه د لته د «خدمت» او دسوز و گداز په و اسطه ستا د جمال د بیمثاله کرشمو ننداره و کړم!-

«زه دغه جنت غواړم ای زمابادارة!!!»

کبزه، خو گیانی ١٥ دجوزا ١٣٢٨ «خادم»

## په محشر کښې

راحاضر کړیء دغه سړی چه په دنیا کښې ئې ډېر ژړلی او اوښکې يې تويی کړې دی. ماددغو اوښکوله بر کته دی وباخښه ـ ځه، زماجنت ابدی نعمتونو، حورو قصوروته !

پښتون شاعر : ای زماخاونده!ـ ای د کائناتو خالقه!ما په ډېر عجز او نیاز ستارحم، اومهربانی، ستاداداو نعمتونه غوښتی دی ـ مګرنه یوازی دځان دپاره ـ ای زما مهربانه باداره! زما ناپوه، خوار او مظلوم قام ستادرحم وړدی!

لوی ښښتن: ځه، قام دی هم درسره بوزه !

پښتون شاعر : ای زما ربه! زما قام یوازی همدانه دی. زما قام دخیبر نه کښته پورته، دسلیمان غره نه لرو بر پروت دی. ظالمانو دوه نیمه کړی دی. که اذن وی چه غونډ اومتحدیې وونیم ـ دغه دی زما سوال ای زما آقا !

لوی ښښتن (په مسېدو) ځه، همدغسی زما خوښه ده ـ ای زما دغریب مخلوق محب او خدمتګاره !

پښتون شاعر: (دقام دوحدت ترانه وائی) روان شو!

دشاعر مېرمن: پاڅه، پاڅه ای سړیه په خوب کښې هم ستا سندری دی ـ پاڅه صبادی! نمونځ قضا کېږی! ـ پاڅه....

کبزه: ۲۳-۴-۲۷

# د خیال په عالم کښې

مایو عالیشان ښکلی او باشکوه عمارت ولید چه د ننه پکښې ستره او مزین مېزونه او چوکۍ ښکاری ، گورم چه په دغو چو کیو ځوتنه ځوانان ناست دی . اوزماخواته په داسی وضع گوری لکه چه غواړی چه هلته ورشم .

ماسره زماځوتنه ملگری هم دی . دوی ویل : «مونږ ته اشاره کوی راځیءچه ورشو . ماویل : « څه یی کو و داځای زمونږ دپا ره نه دی . » ملگروویل : دجهل نه علم ښه دی . مونږورو گرز یدوچه ورنزدی شو ومولیدل چه ددوی په مخکښې نفیس نفیس قابونه ایښی دی . دوی جیبونوته لاسونه کړل ، هریوه له جیبه کاشوغه راو ایسته اولگیاشول په خوراك باندې . . . . .

یوله دوی څخه چه ددغه نورونه مخکښې ناست ؤ ، مونږ ته په خنداشو ، ویل یی: « راځی کنه ! »

مونږنورهم ورنزدې شو . گوروچه دوی په څمڅیو کښې یو څه را اخلی اوخوری یی په دی کښې وران وزم راغی . مونږیو تربله و کاته ، او په نیولی ساه را اووتو . زماحیرت هغه وخت له انتهاڅخه تېرشوچه ومی لیدل په دغو کسانو کښې زمونږملگری هم شته .

جلال آباد ٥حوت ١٣٢٨

. . . . . . . . . . . . . . . . . . . .

# طلائي زنځير

« په دې فولادي پنجره کښې زه ولې اچول شوی یم ، آخر زه خوهم انسان یم ، او آزاد انسان ! » ـ بندی سوړ او سپلی واپست او دا پورته جمله ئی وو یله .

بندیوان : دانو ته ، ولی پنجره ګڼې، دا خوستا کور دی !

بندی : نه ، دا کور نه دی ، دا ګور دی .

بندیوان : ته باید په خپل روزانه کار وبار بوخت اوسې ،او نور چرتونه باید ونه وهې !

بندی : دا نوزه ځنګه کولی شم ، چه په خوږ او درد داخته او سم او خوږ نشم .

بندیوان : خوږ او درد څه معنی ؟ زه نشم پوهیدای چه ستا مراد څه دی ؛ او آزادی ته څه شی ته وا یی ؟

دخوب په وخت خوب، اود کار په وخت کار کولو کښی آزادیې نور نو څه غواړې ؟

بندی: ته خووینی چه په موږ څه‌حال دی .و ګوره کنه !

بندیوان: که ته وږی ئې برښه ئې ، دا خوخدا ئې کار و نه دی . توبه وباسه‌او خدای ته راجع‌شه.

بندی : دلته یوازی د ډوډی‌ـسوال نه دی .

ډوډی‌ـداور بشووی که دزدنو؛مګرخبره‌داده‌چه‌زه‌خوهم انسان‌یم‌او آزاد پیدا شوی یم . نودا چاپېره دفولا دوسیخونه دڅه دپاره دی؟

زه ولی په خپله خوښه خپل خیروشر نشم تاکلی !ـ آخرزما گناه څه ده ، او قصور مې څه دی.

بندیوان : ماخو تاته ویلی وو چه خپل کار کوه . چټی خبرې څه فائده کوی ؟ ـ چه نه کار هلته څه کار !

بندی : زه اوس پوه شوی یم چه زه بندی یم . زما پرو مبی کار دادی چه خپل ځان اوخپل ورونه له بنده خلاص کړم ! اود آز اد و مرغانو غوندی آزادو الوزم !

بندیوان : گوره ،ستااخلاق خراب شوی دی! که وانه وښتې،سخته سزابه در کړ ی شی !

بندی : دحیات خوند آزادی ده . زه له آزادی محروم یم . ددینه به لاسخته سزابله څه وی؟

بندیوان : دې بندی ته سزالازمه ده ، نیسئی ئې !

بندی : بندیانو ورونو اهلیء فولادی‌سیخان‌مات کړیء ..ووزی ، تاسو آزاد انسانان یی . فساد مه کویء .

او اصلاح ستاسو کاردی .

( پنجره ماته شوه او بندیان را وو اته . )

یوبندی : اوس به څه کوو ؟

بل‌بندی : اوس به ځو کنه !

دریم‌بندی : چېرته به ځو ؟

څلورم بندی : دسعادت سرحدته .

پنځم بندی :نوځی‌چه ځو ، بسم‌الله !

ټول بنديان : آه ، زمونږ په پښو کښې خوز نځيرونه دي !

د بنديانو مشر : آه ، داز نځير خوز ما په پښو کښې هم دي ! -

( آه دا خو مونږ په خپلو لاسو جوړ کړی « طلايي زنځير » دی )

د بنديانو مشر وويل ، او بيا ټول غلي شول !

سنبله ، کابل ۱۳۲۸

# طلسمي ښار

چېرته ديولو ږغره پهخو كه جنگ‌اومحكم كوټ اوحصاردى.پهدى حصار كښې دننه يوښاردى چه لهعجائبو اوغرائبو ډكدى. د لته د دنيا قيمت بهاتو كى، نعمتو نه،لعلو نه،مرغلرى،جواهر،دانى اودولتو نهموجوددى. دحصاردننه او بيرون دروازې‌تولى فولادى‌دى‌او كلكى‌جندرى ورته پرتې دى. په دى سرمېره ښاردهيچالاس نه بر كېږي !

نه پوهېږم كوم يودخداى دوست بنده پهدې‌خبره ښنكه پوه شوى وُ چه داحصارونه او دا جندرې‌تولى طلسمى دى. دا طلسمونه په دې ماتېداى شى چه ددغه مملكت خلك تول‌په خپلو پښو د كلا خواتهراشى ودرېږى اوپه يواواز ووايى : « بېرتهشه دخداى په فضل ! »

دوطن‌خلك‌تول وزى، تېزى، بربنډ ، يودبل په اوزوسپاره اونارامه وو : پلى دسپرو او سپاره دپلو له لاسه ! - چه داخبره يې‌واور پده ، هر يوبه پټ پټ ، غلى‌غلى پلى اوسپور راته اوغبز به يى كاوه - «بېرته شه دخداى په فضل ! »

مگردخداى دافضل‌يوازى‌ديو كس‌ياڅو كسوپه‌نصيب نه‌وُاو؛خلكو دازړه نه كاوه چه د ذاتى اغراضو څخه تېر شوى واى ! په گډه ، پلى راغلى واى اوپه گډه‌يى دا كاميابى حاصله كړى واى - په د ې غبز چه « بېرته شه دخداى پهفضل ! »

ورځې اوشپې تېريدې . دوى تول پهخوارى، ذلت اوحقارت مبتلاوو. نه پهمملكت كښې روغه كوته وه ، نه روغ صورت ، نه

مړه ګېډه . نه‌روغه‌تنې‌اوروغ زړه ! ـ مملکت‌دلعلونواوجواهروڅخه ډك ؤ. فقط همدومره وه چه دوی ټولو‌ ړنه غوښتل‌چه ټول آسوده‌شی . په شرافت ژوند وکړی. په خپلوپښوو دربېزی‌او په‌یو آوازو وایی چه « بېرته شه دخدای په فضل ! »

دامملکت اوس هم شته . اوس هم‌پکښې هماغه حال دی. دخدای هغه بنده اوس هم هماغه ناري وهی . مگر خلك نه غواړی چه یو دبل له اوزو کوزشی ،آسوده شی؛ اودخدای دفضل مستحق شی ـ ځکه‌نوتش په یوه خوله نه وایی : « بېرته شه دخدای په فضل » !!!

کبزه ـ خو گیانی

۲۲ دجوزا ۱۳۲۸،

# ای دخیبر غرونو!

بس کړی ء داد بیلتا نه وظیفه پر یبزدیء!

پر یبزدی ءچه‌دیوي مور اویو پلار زامن سره په د ید ار ماړه شی؛ په یو کور کښی په‌بوانګړ کښی دننه، تاسو دکوه قاف مثال څله جوړ کړی دی؟—

را ته‌یټ شیء او په‌خپله سینه‌لیار ورکړیء هغه میندوته چه زا من یی تاسویو تربله پناه کړی دی — اوهغه خویندوته چه ورونه‌یی دهغو په‌بی آبی په‌خپل سرونو اورونه بلوی!

بس کړیء د مینانو او عاشقا نو په‌منځکښی ر قیبا نه سیاست ترکومه؟—

مه کویء سرښکته کړی — هغه قوم ته چه په دنیا کښی ستاسو شهرت‌دهغه‌دننګ او آزادی‌مرهون‌دی! لیرې شی، پریبزدیء دا لیاره — چه شل، ملیونه‌زړونه ورنه‌هغه‌خوااو دیځوا دپارې ددریاب غوندې، دارمان او آرزو په‌اثرپه‌جنبش کښی‌دی!

ای دخیبر غرونو!

ای دافغان‌دشهامت اوعظمت‌دبرینو یادګارونو!

ای دلویی پښتونخوا دمخ پوزې! — نورددوه‌ستر ګود اشنایی او شناخت مانع مه کیبزیء! —

وشرمیبزیء او دسپین غره اوکونړ په شان په خپل‌سر اغیارو او بی ننګانوته ځای ورنکړیء!

هو! وشرمیبزیٔ او وویریبزیٔ چه هغه طوفان راتلونکی دی چه په غرونو، رغونو، لوړو ژورو، یوشان تیریبزی — او نه پرهیز دی هیڅ یوه لوړه چه ځوئې ټیټه نه کاندی !

ای د پښتو نخوا دزړه دلعلونو او جواهرو خزانی ! بس کړیٔ د پښتو نخوا دتحقیر او تذلیل سبب نه شی !

هو ! بس !!!

کبزه، خوگیانی ۱۵ دجوزا - ۱۳۲۸

# ارمان او پښېمانی

ای خدایه زه یوازی یم !

زه پر پېشانه او بی مرستې یم !

وړې وړې مرغۍ چه جوړه جوړه او سیلو نه سیلو نه گرځی ما ته ژړارځی !

کوم وخت چه په صحرا کښی څر ړونکی غوایی یو له بله ښکر و نه ور ته کړی، اود هر یوه په ړه دهغه کومکیان راشی ، نوزما په زړه کښی دوینو لاړې وشی !

پسرلی او منی چه زانی په یورته شنه فضا کښی کتاروته کتاروته دیومشر په راهنمایۍ دسفر منازل قطع کوی، نو هغه وخت له خپگا نه زما ستونی بند شی !

هغه وخت چه ووینم بلبلی په اتفاق دیپوسانو دضرر ددفاع دپاره په هغو غوټې وهی ، اوچر گه دچر گوړو دساتنې په نیت دسپو او پیشپړانگانو دنو کانو خنجرونو ته ځان ورکوی . نو دنامیندگۍ توره تیاره ماته جهان تورتم کاندی !

آه زه یوازې یم !

دښمنان را نه چاپېر دی !

څوك می دمال اوڅوك می د سر په فکر کښی دی !

زه څه پوهېدم چه حق همیشه په قوه ساتل کېږی !

زه څه پوهېدم چه ته زمامټ بازوی یی،زماد کا کا ز ویه !

ماویل چه ته‌زمارقیب یی !

ماویل چه ته ماته ضرریی !

ماویل‌چه‌ته زما تر بوریی !

سرراپورته کړه‌ای زماعزیزه !

ملادې وتړه ای‌زمادشرف اوناموس ساتونکیه غیرتی وروره !

ولی‌غبزنه کوې غلی پروت یی !

پاځه پاځه چه‌نور بی‌پته کېږم !

ای زما گرانه‌زوکیه !

آه خدایه ماخپل ورورپخپله وژلی دی !

اه زه‌دې ومرم زما ننگیالیه وروره !

# ما ګره مه راځه !

مادخو ازه‌ژوند ورځې اوشپې دده په‌یاد تیرولې !
دحیات ستغ‌او سپور مې دده په‌تصور ځغمل !
ټولې ناوړه‌ا ونا خوالې‌مې په‌سراخستې !
ماویل داسې یوه ورځ به‌ر اشي زه‌به دی‌و ګورم ،
لیدلی ، اوریدلی ، لوستلی اودر ک کړی به‌ټول ورته ووایم !
ماویل ده‌به‌ماته‌غوږ نیولی وی ، اوزه به‌ور ته دزړه ټو لې غوټی
و سپړم !

رازو نیاز به‌ور سره و کړم !
هو ، دغه ورځ راغله ـ خو ـ ده ماته وویل :

« ما ګره مه راځه ! »

ماسره آرزو ګانې وې ،
ماسره ار ما نونه و و ،
ماسره د ګلونو ګلو نو سو د اوه !
زما په‌ژ به ترا نې ـاو
زما په‌رباب کښې نغمې و ې !
ماویل دابه دده په‌حضور عرض کړم !
زما په ځولۍ کښې ګلان وو ـ
زماپه لاسونو کښې هارؤ ـ
دامادده په‌یاد جوړ کړی ؤو ـ

۱۰۰٥

خو ـ چه‌زه ورغلم ـ ده‌ویل :

« ما کر ه‌مه راځه ! »

زماخبري ، زماآرزو گانې ، زماار مانونه ټول‌پاته شوه !

اسر ار ، ونه ویل شو ل !

راز ونه پټ پاته شو ل !

زماد آمالو ښیښه په‌تیږه ولگېده !

زمازړه دپاچ ټیکرې ؤچه‌د گل په‌بو ټی غوړ یدلی ؤ ، کوم و خت

مې چه‌ر اغوند اوه، په‌اغزو کښې تارتار شواو په‌لاس رانـغی !

زماپه‌ستر گو کښې‌او ښکې وچې‌شـوې ،

کوم وخت چه‌ده وویل :

«ما کره‌مه راځه ! »

ده ماته دپو ښتنې فرصت را نکړ !

ده‌زه ملا مته نکړم !

یو تر بله‌پوه‌نشوو !

نه‌پوهېږم چا لمسو لی‌ؤ !

چابدېوه کـړی ؤ ! ـ یا

زه په‌ا دابو پو ه‌نشوم !

لا سونه مې‌یې ښـکل نـکړل !

اویل زړه په‌زړه آئینه دی .

ماویل ماسره اخلاص دی ـ تصنع څه په کار !

خو ـ زما ستولی بندشو ـ

هغه وخت چه ده و یل:

« ما کره مه راځه ! »

جلا ل آباد ۲۵ دحوت ۲۷

# دخپل هر فصل اجر

دخپل هر فصل اجر ماته پهدې دنیا کښې ورسید، داسی به نه وی چه مادې نیکی کړې وی روز ماز ړه دې دننهزننه دخوشحالی نه نه وې ډ ك شوی؛ په داسې وخت کښې زما لطیف جذبات داسې په جوش کښې راځی چه زه په خپل زړه کښې دټولې دنیا د تنگ نظرۍ نه پورته پورته ښکارم؛ جرأت زماپه هرر گ کښې سرایت کوی نوزه پو هیږم چه زما خالق تش دیو وړو کی فرض دا دا کو لو په عوض دخپلې خوشحالی سره ماته دقوت او اطمینان بې بهاهدیه راليږلې ده؛ او دې دپاره کلونه او ساعتونه څه چه يوستر گېرپ هم نه شولازم؛ زه نه پوهیږم چه داځه رنگ قاصد دی چه دادخوشحالۍ زیری ماته په ستر گی رپ کښې را رسوی. ماته داسې ځلیږی چه گویادزړه په تیارو کښې دنور دشغلو وړانگې راپریوځی، چه د هغې نه دا خو زه چینه گړ ندی رابهیدلې اویوبې سرو بره دریاب ترې جوړشوی؛ دهستی په وسعت کښې خپر کیږی پردې بله خوا- ماکله دنیکی نه اجتناب ندی کړی ،چهزما زړهدېددې باغیانهحر کت پهسبب ټوټېټوټې نه وی شوی، مادامانیدهپه خپلوځان غلو ونکو تسلیو اوپه قصدی خندا گانو که هر څه پټ کړی اوغوښتیمې دی چه زما زړه هم پرې خبر نه شی لیکن دا مصنوعی خوشالیدپو کښی غوندې چوی اوزهترور اولیونی ښکارم هو! کله داسې هم شویدی چه زمازړه دخپل عادتی کبزوتلو له کبله صیحح احساس نه وی کړی؛لیکن ددې بې پروائی په جزا

کنبې یوبې تغیره قانون مادیو سخت ملزم غوندی داسی نیسې چه سا
اخستل هم مشکلیږی، نوز مازړه چغې اوسورې وهی اودا دعا کوی
چه« ای خدایه! بیابه داسې نه کوم تهدبنبیمانه زړونو رښتیا نی دعانه
رد کوې!» نوحق تعالی یې اوری اوقبلوی یې لیکن آه!- زه دهغه ددې غوې
شخه په غلط وهمی کنبې لویدلی داهیروم چه یو د اسې ذات شته چه
زماټول ښه اوبد په هره گړی کنبې وینی اودژوند دباغ رنگین گلان
او مړاوې غوټی په خپلهناز که تله کنبې تلی اویوهذره هم نه عبثو ي.

# ای دقلم خاوندانو

ای دحقیقی ضمیرلرونکو ، ای دوجدان دآواز ترسیمؤ ونکو ، ای دهډیې ژبې په ژبه پوهیدونکو ، ای دالهاماتو آخستونکو ، ای دتاریخ آړوونکو، اوای دآدم دقلب په محفوظی تختی دسرمشق آچوونکو !

مه وایی چه دنیا دتنازع للبقا میدان دی!

مه وایی چه مونږ په دنیا کښې درقابت اوهمچشمی دپاره پیدایو !

مه وایی چه هلئی منهی کړی چه کاروان لاړو !

مه وایی چه مونږ دقوم اووطن دپاره خدمت کوو !

ځکه مونږ انسانان پیداشوی یوزمونږ خلقت اوآفرینش عبث نه دی زمونږ حیات غایه لری او هغه «دوظیفی انجام» دی !

زمونږ «وظیفه» د تنازع للبقا ، رقابت ، کرل اوریبل ، منډې وهل او ددهاودهغه دخدمت نه ډیرپو رته مفهوم لری !

«دوظیفی» مقام دژندگی اومرگ دمراتبوڅخه لوړ ، د«عشق» په لامکان کښې دی .

دتروږمی دنیمې شپې په سکوت کښې دغټوغټو ستوروته ورهغه پلو دهغه وړووړوسپرغیو په خفیفواشارو کښې ماته دا راز څرګند یږی هلته وګوری !!!!

# مینه گناه ده؟

ای خدا یه
مینه گناه ده؟
اوچه گناه وی نو ژوند څه شی دی؟
ژوند دمرګ نوم دی؟
له دې ځایه ترلا مکا نه تاته ددر تګ دلار ې هر پل بې له محبته طی کېدی شی؟
ای حق او اعلی حقیقته، ته دمینې ظاهر وونکی او دمینې مظهر نه یې؟
نو مینه ګناه ده؟

دادمنې په ونه کښې سری منې او یزانې، داد ځنګلو نود و نو ګڼه اجتماع، داد لو یوغرود بې انتها تیبز وترا کم، داد پورته غیر متناهی ستورو خموشانه انجمن، داد دې نورانی عالمو نو پر امنه جنبش، داد تو لو سیندو نو سرا یښو دل دسمندر په غیږ کښې، داد ابحار ولیو التیـا او بیتابی، داد مرغیو لوی اوی سیا لونه، دا ټول دمینې او محبت مظاهر نه دی؟
کائناتو هره ذره دبلی سره دوصلت لیواله نه ده؟
نو! ای خاوندهمینه ګناه ده؟
که زمازړه دستر ګو په لاره کومې خوا ته ځی که د ښکلیو نا زاو کرشمه دمقناطیس غوندې مارا کا زی —
که دعا لم په نظام کښې زه یوخلی یم چه دمینې بادمې هرې خوا ته وړی.

که زه عشق ته پیدا یم ، او عشـق ما ته

او بې دمینې له شرابو، نورهرڅه زهر وی

نو مینه گناه ده ؟

ای خیرمحضه ، کهمینه شر؛وی، نوله تاڅنگه صادریږی ؟

او هغهچهمینهشر؛بولی څهرنگ ستاپهدنیا کښې او سـی؟

بېشکه چه دو ئی دلته داوسېد وحق نه لری !

نو ای ښېښتنه مینه څنگه گناهده !

هو ، هغه چهمینه نه وی غضب وی !

جلال اباد ــ ١٣٢٣

# نوې لیاره

د کاروان ټول واړه غټ، نر او ښځې، خر او ټټو اسونه او اوښان قطارونه قطارونه په خپل گرد اود وړو کښې دغردرنیا نه پټ ، له هرڅه بې فکره فقط دلارې لنډولو دخیال په شر ابو مخ ور روان وو ، تلل ـ مگر یو سړی چه تروړا ومبدل معاو مید و لکه وره که چه لټوی، کله به ئې د کاروانیانو سره هم آهنگی کوله او « حدی » به ئې ویله او کله به په دې څنگ او هغه څنگ له بهیره جدا کیدو ـ په آخره کښې ئې غبز کړ وای خلکو! ای خلکو! راو گرځئ چه دا لاره د هغې نه ډیره لنډه، ما مونه اوهـو اره ده ـ

کاروان روان ؤ او ده ورته ناري وهلې چه: خلکو پام شو ، ویل ئې اوهو، لیونی دی ، ته تیبزې اخله ، او زه تیبزې را اخله او زو له ئې ، کاروان ویشتلو او ده ورته په خندا خندا ناري و هلې . . . .

هغوې هم لاړل او دی هم لاړ خو ډیرې زمانې پس ته خلکو ومنله چه د هغه خبره صحیح وه ، ده رښتیا ویل مگر خلکو دروغ گڼل، و گورئ اوس څنگه په خندا خندا روان دي ـ چه څومره ی شی !

پیړئ تیریبزی او ددهر دارهټ هره ورځ نوی منگو ټېر راوزی ، کاروانونه روان دی او ځی ، تردی لانوری نوې لیاری هم دغه شان پیدا کیبزی قافلې او کاروانونه روان دی . . . . .

هیچا ونه ویل چه ور سیدو خوهمدې دجدت لذت دتلونکو ستومانی ایستله! هیچاو نشو کولی چه دا رفتار معطل کړ ی .

جلال اباد : ۱۳۲۳

# دآسمانونو دپورتهخوانه

آها،ها،ها،ها، ! ...دومره لوی شین دریاب!چه انتهائې د لا یتنا هی په امکان کښیور که ده !......

څومره لاتعدولاتحصیواړه اوغټ منور موجودات یو تربله پهجنبش کښی دی !

هاغه، هوغه ، اوهوغه نمرونه اوسپوږمی دی:نشی وبلی چه داله کله اوتر کله اوځله ـ ! ......

ددغو بیشماره عالمونو په منځکښیهوغلته یوه گردیږده چهڅمکه بللای شیهلته اوبهغرونه خاوره رنګارنګ ژوندی مخلوقات شنه او لوئید ونکی نباتات او دانسان پهنامه یوخوراښکلیحیوان وجود لری ! ......

داموجوددوه پښی لری ،دوه لاسونه اودوه وزرونه !

دا دوه وزرونه «عشق» بولی او «عقل»

پهدغه دوه وزرونوهرې خواته آلوزیمګریوهلویهبلاچه «آز» دی دده ترغاړیچاپیره اودپروازئې مانعه ده !دده عمر داسی د ی لکه په زر کالو کښی یوستر گیرپ!هغه هم د«آز»لهلاسه پهغملړلی !په دې غیر محدود عالم کښی دغه نقطهپر شوره ده !

هودغلتهده اودغه دهزندگی !!!.

# ښاپیرۍ او شاعر

ښاپیرۍ:(...دشرابو ګلاس پهلاس کښې شاعرته ولاړه ده شاعر یوی ښکلی منظری ته ګوری او خهلیږی) نهشرابو ته میل لري او نه ماته ګوري عجبه ده معلومیږی چه د آشنائی پهرسم ورواج نهپوهیږ ي!

ستا نفس ګدازئی او غزل سرائیږ شخه تول دجستجو او آرزو سوز وساز څر لند پیږی آهداخومره جاذبه زمزمه ده!—

ستالخراشه سرود دارم دښاپیرولهسیله راو ګرزولم! آه داڅهقسم دلربا جهان دي چه ستاپهنغمو کښې لیده شی !چه ارم ئې په مخکښې لکه طلسم داسې برېښې!....

تهخوماته لږو ګوره زهښاپیرئی یم!

شاعر: (قدموهی) ستاینش دار کلام دتلو نکو اورهروانوزړونه غولوی اورا کاږی ئې ،مګر دلاري داغزوخلش ورنه زیاتخوندوردی!

څهو کړمزما فطرت مقام نه قبلوی ! زمازړهداسی دی لکه دصبا بادچه په لاله زار ګډ وی.

کوموخت چه یو ومعشوقهو ګورم نوهغهوختمی دهغی نهزیا تې ښکلی اوښایستهمعشوقیتهزړههوس کوی!دسپرغی نهستوری ،اودستوری نهنمر غرلټوم، زهسکون نه غواړمځکه چه دامر ګ دی!

هر کله چه دیوه پسرلی دشرابو څڅهیوه پیاله و څښم نو بیا د بل پسرلی په آرزوغزل وایم

زه دهغه څه آخر لټوم چهآخر نهلري،ولی بیاهمزمازړهبیوارهاو خاطرامید واره دی :!

دعاشقانوزړه پهداسی همیشه جنت ښې چههلتهددرد آواز اوغماو غمګسار نه وی‌مری!      (د خدای پامان)

# اشرف المخلوقات

وگوريء دوه مرغئي تمام ژمی بی له ازدواجي احتياجه په يوه ځاله کښې په څه اتفاق اومينه ژوند کوی ؟

کوتری سيلونه سيلونه آلوزی او په ګډه نزدې نز دې ، په سختو کمرونو لوړو برجونو او دبنياد مانو په کورونو کښې جوړی جوړی او سيبزی ، ددوی مېنو کی مېنلوزرونه‌رپول اوخوازه آو ازونه ايستل د ګډون او محبت قابل رشك مظاهر ښيئی !

زانې لوی لوی قطارونه جوړوی ،د آسمان په شنه فضا کښې الوزی ، دخپل مشر په راهنمائی دسفر ليارد تعقيبوی ،اوږی يخو ،اوژمی تو دو هيوادو نوته ځی .

دمشر په انتخاب ، دلياری په خوښولو ، درزق پيدا کولو باندی ددوی په مينځ‌کښې هيڅ نزاع اواختلاف نه پيدا کيبزی: کانې خوری خويودبل غوښی نه خوری !

ليوان په غرونو او پړانګان په ځنګلونو کښې اوسی ، دمخصی په حال کښې دبل په غوښو خوراك نه‌اړ کيبزی ،مګردراتلونکی ورځی او آينده کال په غم يادخويش، اقرباء، قوم، و طن دخودساخته تعبيراتو په لحاظ دبل د کور ورانولو وينو تريولو، او استيصال ته ملا نه تړی او ځانونه په مرګ نه‌ور کوی !

متاسفانه‌انسان دعقل په غرورپه‌نرمئي يا ګرمی‌دبل په وينو ښنيلو لانه قانع کيبزي څود قومونو قومونو ، ډلو ډلو په زړونو د ماغو نو

اعصابو او فطری خواهشو نو تسلط و نه کړی او ړانده کانړه او شل ئی
و نه گر ځوی.دی تل خپل جنسی ، غذائی او غریزی میلانات پوره کړل
دنورو په ضرر او تهلکه کښې لټوی، او بیاور ته د تهذیب ،قانون او فلسفی
جامه ور آغوندی !

آه ـ کاشکې چه انسان هر څه وای خو اشرف المخلوقات نه وای ! ! !

# الهامات

## ـ﴿استقلال او لجاجت﴾ـ

مهم کارونه د مزاج استقلال ته اړ دی، مګر داستقلال او لجاجت په مینځکښې فرق دی: کوم وخت چه ستاد ټینګار نه رد عمل پیداشی، نو پوشه چه ته په لجاجت اخته یې!

## ـ﴿ دام ﴾ـ

زه درته دانه وایم چه نیکی مکوه بلکه دادر ته وایم چه دهغو کسانو په دام کښې و نه نښلی چه تا دنیکئی په خوا ترغیب کوی!

## ـ:(اتفاق):ـ

تولی قومی او ملی کامیابئی داتفاق مرهونی دی، مګر اتفاق د پسرلی باران نه دی چه پخپله وریږی. بلکه د هر ملت داتفاق تهداؤ نه د هغه ملت خواخوږی حکیمان او فلاسفه ږدی!.

﴿ ۲ ﴾

کوم ملت چه اتفاق نه لری ګویا هغو سړی نه لری.

## ﴿ حقیقت ﴾

هرڅوك چه شکایت لری چه دنیا په تیاره کښې ده، او حقیقت ورك دی نودوی دی دحقیقت په مفهوم نورهم غور و کړی!

## ﴿قلم﴾

کیدی شی چه نور کارونه په زور وچلیږی، مګر قلم ناز که شی دی، په ده چه زور راشی ماتیږی!

## ﴿ قلم او توره ﴾

توره په خپل ځای کښې د کتاتوره ده او قلم په خپل ځای کښې، وړاندی والی هغه وخت کیږی چه دادواړه احترامانه اتفاق وکړی!

## ﴿ خوشامندې ﴾

خوشامندې هغه متاع ده چه په دنیا کښې ترهرڅه زیات خریداران لری!

## ﴿ گودر پیژندل ﴾

په سعیه او کوښښ خوسړی وړاندی ځی! ولی بی گودره گډیدل سړی په سیندلاهو کوی!

## ﴿ نیکی او سړیتوب ﴾

نیکی کوه خو سړیتوب له لاسه ورنکړی!

## ﴿ شعر ﴾

کلام دخبر دمجموعی نوم دی. هر کلمه چه پهدی مجموعه کښې خوند او کین پیدا شی نو شعرورته وائی

## ﴿ خوشحال او رحمان ﴾

خوشحال په تولو معانیو سر دشاعردی ولی رحمان دشاعر نه پورته مقام لری

## ﴿ ادبی ﴾

هیڅوك په زور باندی خپل ځان په چالوی نشی منلای!

# نوی اکتشاف

داسې یوشی ماته معلوم دی چه دهغه پهواسطه هر خام پخېږی هر ناکارهورباندې کره کېږی. هر بیکاره شی وربانديد کار، اود کار وربانديمثل الاعلیتهرسېږی !

د آئینېغوندې بلكاودبرق پهشان نوراودقوس قزحغوندې رنگینی لری . داسنگپارس نهدی خوچه پهتیبزهیووهې سرهزر کوییی !

عجیب خواص لری : دهرچاخوښ دی . اوچه څوكیی لری هغههم دخلکو خوښېږی ! ولیهرچاته چهمخامخشی دارترې کوی . اوترې وېرېږی ! هیڅوك ورته ځان نشی نیو لی !

رادیوم همنهدی . مګر په ندرت ! کمیابی! قیمتیءاونوروهزایاو کښې دهغهپهشېردی . دوېرولېږو خلکوپری لاس برېږی، خوپهدې سبب چهداوربخری تری الوزی ، چه څوك یی واخلیسوزی یی !

چه ښه اواصلی ئې پهلاس راشی نوهرچاته ئې سراسر فائده ده ! یله هغه چاچه لری یی . هغه څوك ئې اخستی شی چه له ځانه پری نور ګرانوی . اوپههغهملکونو کښې دیچههلته تولنهپه فرد رحجان لری !

نوم ئې درته وښیم ؟ — :«انتقاد »! ! !

# دړوندانه دري خوا

(علم ،شعر، سیات)

علم: اکتشاف ! شعر: احساس! او سیاست: کول دی !

عالم فکر کوی . شاعر خبري کوی . او سیاس عملاً کار کوی !

عالم گوری . شاعر خاندی او ژاړی . او سیاست دان لوبې کوی !

علم د مغزو ، شعر د زړه او سیاست د گېډې او غړیو پوري تعلق لری!

عالم قوانین ، شاعر ملل، او سیاست دان ډلې جوړوی !

عالم تخم پیدا کوی . شاعر یې کری او خړوبوی، او سیاست دان یې ریبی او حاصل یې اخلی !

زندگی یوه سر سبزه او خیرازه ونه ده . علم یې بیخ ، شعر یې تنه او سیاست یې میوه ده !

# گلان ټولول

باغوان تازه تازه او ښکلي گلان ټولول او گوډي یې جوړولې !
گلساز کاغذ ونه پرېکول او گلنمایي یې کوله !

ده ، هغه ته وویل : دا مه کوه !

هغه وویل ، ولې ؟

— ځکه چه دا گناه ده !

— : په څه ؟

— په دې چه که گناه نه وای ، نو هر چا به کولای !

« گلچین »

# قافله

پاڅئ صبا دی!
وگورئ ستر گه جگه راغلی ده!
هلیء، نور خلك تول ولاړل !
(دقافلی میر دغه پورته غبزونه وکړل)
(په دې کښې)
یوو ویل: اوه، څومره ښه هوا لگېږي!
بل وویل: نن اسمان څه ښه‌شین دی!
دریم وویل: ستوری داسی ښکاری لکه په شنه چمن کښې د
پیغاو تولنه !
څلورم وویل: دصباستر گه تر تولو ښایسته ده !
پنځم وویل: خاندی خوشحاله وائی !
شپږم وویل: دا لیلیٰ ده چه دقبیلی سره والیږه!
اوم وویل: رشتیا وایی، یا ځوږی، سپینې وچاودی او رنیاخپره شوه!
تولو وویل: بسم الله! (او پاڅېدل)
(په دې منځ کښې چاوویل:)
څه کوئ دومره دو خته !
بل وویل: تر اوسه لا تور تم دی !
دریم ورو سر را پورته کړ ویل یی: بابا څه شور موجوړ کړی دی؛
مونږ موله خوبه وا یستو؛ تو له شپه لا پاته ده!
چپ رته ځی، لیونی یاست! کرار څملئ!!!
(اوس یی کښېښود)

(داخبرې چاو اورېدې او که، باسنده یې و ګنلې، خو خلك روان شول -)

څوك ګرندي روان وو او څوك غرنده !
څوك سپاره وو او څوك پلي —!
څوك سپین ږیري وو او څوك ځوانان !
څوك واړه وو او څوك ښځې !
څوك مخکښي وو، او څوك وروسته!
څوك غلي وو، او څوك ګړېدل !
چا ذکرونه کول او چا دعاګاني !
چا پسګړئي په سر کړي وي او چا خولئي !
چا اشعار ویل او چا ترانې-!
چا شپېلئي وهله او چا داریال !
چا ویل غلي شئ، او غلي ځئ!
چا نصیحت کاوه او چا قهر !
چا ویل دا لیاره لنډه ده، چا ویل هغه ښه ده- !
چا ویل دا بې خطره ده چا ویل دغه!

(د قافلې میر په مخکښې ږده به غږ کاوه چه راځئ، مه وېرېږئ! )

( خلك روان وو او نه دریدل)

په دې منځ کښې یو، یو داسې ډم ؤ چه د تنګ خیالۍ نه دراود-او نور یې هم ځوښتل چه پاته شي !

ددوی په دې باب کښې خبرې ډم زده وې، او چلو نه هم !
څوك به یې ډارول ، او څوك به یې له پښو را اچول !
ددوی سره هیڅ هم دې، دا به یې د خلکو پښو ته وراچولې !

دچاپه چه پام نه ؤ، کالي به یې تري حماله ، اودتحر گ لاندې کړ-
یابه یې په بهه وواهه !

کوم خوار غریب به یې چه وروسته اویوازې ومیندنو تېرایستلو به یې هم،
اولوڅاوه به یې هم !

ماداخلك و نه پېژندل او نه مې سم صحیح کړل !

ددوی دقوارې مې هم په ځای رانه وستې، ځکه چه دوی په خپل رنگ
ځانو نه نه ښودل !

نه مې ددوې لباس په نښه کړ ، ځکه په هره جامه کښې وو !

هو ، دومره وه چه ژویلی خبرې ، رنهاتهنه راوتل ، خلك لمسول او
خطاایستل ، بی کاره مزدغوښتل او استفاده کول ، کله کله ستر گی
برندول-ددوی علامې وې :-

په آخره کښې ماداور ډېل چه یوه بل ته ویل :-
« گوره بیدارشه که داخلك مو راستانه نکړل، مونږ په سپېره ډاگ یوازې
پاته کېږو! »

صبا په یوه ډله کښې ماداخوب وو ایه او تعبیرمې وغوښت :-
یوهوښیار را ته وویل : « کاروان او رهزنان ! » یوشاعر را ته وویل :
« تلاش حق اوشیاطین ! » یوعالم راته وویل :«ملي قافله او مرتجعین!»

جلال اباد ۱۱ دعقرب ۱۳۲۷

# د هوښيار ماشوم

ادې جانې ولې ژاړې !

هان ، ادې جانې ولې ژاړې ؟ —

بابا مې درسره بيا جنګ کړی دی ؟ —

وې وهلې ، هان ؟ —

نو ولې يې وهلې ؟ —

هان، ادې جانې، په څه شي يې ووهلې ؟ —

ادې جانې بابا مې نو ولې تا سره جنګ کوي؟

هان ، ادې جانې بيا دې —

بيا دې په سبو کښې مالګه ډېره اچولې وه؟

خير دی ، ښه ادې جانې! —

ته مه خپه کېږه !

ودرېږه چه بابا مې راشي زه به يې هم ووهم !

ښه ادې جانې مه خپه کېږه !

ته وږه مه ژاړه کنه !

ته مه خپه کېږه! چه بابا مې راشي —

ښه ، زه به ورته قار و کم ښه !

پرون يې وهلې وې ؟

داېږه مې چه بابا جنګ کوي —

زه به هم ورسره جنګ و کم —

ښه ادې جانې!

ماچه رشیدو هی نوزه‌یی هم وهم !

چه بابامی وهلي ، ته یی هم وهه !

ادي جاني بابامی زوروردی ، هان ؟

ته یی نشي وهلی ؟

ته‌نښتده یی ؟

هغه زوروردی ؟

څنګه زورور دی ، هان ؟

بل څوک نوولي نه‌و هی ؟

ادي جاني زورور خوحا کم‌دی کنه !

هغه څه وو ؟

هغه څه‌وو ، هغه حاکم چه‌راغلی ؤ-

هغه سړی بی چه‌ووهلو !

ودریږه ښه !

زه‌به ورته ووایم - چه

بابامې هره‌ورځ تا وهی !

ادي جاني مه ژاړه زه خپه کیږم !!!

# دامي ار مانشو

زه نه پوهېږم، خوږ پرترور او مبدل ؤم، نه پوهېږم چه زما زړه څه ور کړی وو، او که یخ پــله دی له ما نه ور کـړ شوی ؤ!

دغه رخت چه تهٔ ماولېدې، زما زړه په سینه کښې په زوره ودرز پداو دخپل وجود اعلان ئې راکړ. زه پوه شوم چه زما روح ستا په تلاش کښې پرېشانه ؤ.

ته د وړو کولو په ته یوه خو انا سته وې؛ دما سپېنین دنمر پلو شو ستا ګلابي مخ تناویزی کړی ؤ.

زه پونشو مچه هغه کوم نور ؤ چه زما ستر ګې یې وسوې، ماتا ته په زیرونشو کتلای! زما جلب زما دزړه په لاس کښې ؤ. ده پرې نښودم چه په خپله لاره په عادي رفتار تلای!

زه اریان یم چه ته څنګه پوه شوې چه له هغه ځایه راو لاړه شوې او زما دلارې سردې ونیو! ــ آه داځو مره لوی احسان ؤ!

تاماته سم ونه کاتهٔ او نه دې وخندل!

زه پښه نیولی تېرشوم!

خود امی ار مان شو:

چې کاشکې زما زندګی د ګل صورت غوره کړی وای، ما دا ګل تاته د رتقدیم کړی وای، او تا زما له لاسه اخستی وای!

# اورگی

شپه وه ، تیاره او چو پهچو پیاوه !

دشپې پهتیاره،د کائناتو پهسکوت او پراخهفضاء کښې ؛ دشنو فصلونو ، دگڼو ونو په منځ ، او دګلانو د بوټو په پهخوا کښې یو یو بلک کیږي !

ایاداور سپرغۍده چهبادیی وړی ؟

کهد ژوندانهپایی تهرسېدلې دیوه دهچه په ځلګیو ځلګیوروستنی دقیقی شمېري؟

دگل دبوټی نهدبلبل غبزشو : آه اور کیهپه دې شپه ؟

اورګی : هو کوم وخت چهپهرڼا کښې دلاروره کوله لا سه لیار ترلې وی : نوپه خدائی نورشپه رڼول پکاردی !

ـ آخرچېرته ؟

ددې فصلونو ، ددې ونو ، اودښتونو ، دا ګونووهغه پلو ته !

اودهغه غرونو ، سیندونو ، دریابونو ، اوسمندرونونه پورې غاړه ؛

کوم ځای تهچه نمراو سپوږمی پهځند اخندا ورځی ؛ هلته !

اوه کوم ځای ته ؟

هغلته چههلته فطری رڼاهیڅ حائل نهلری . اوهغه ځای تهچه هلته «لټون» آزددی ! ! !

کاپل ١٣٢٢

# دغوټۍ ژوندګی

ډېرې شپې ورځې تېرې شوې ، موسمونه واووښتل راواووښتل !
دسمندر دغاړی بادونو وربځی دځانه سره راوړې ، وربځود غه ځای
په حالت وژړل او اوښکې یې تويې کړې ! ـ

دا اوښکې خوړونه شول ، بیا سیندونه شول ، او بیا ويالې شوې ،
وروسته د ګل په ښاخ کښې و چلېدې ! ـ

او خدای زده څومره اسباب او علل سره یو ځای شول ، او څومره شرائط
وجود ته را غلل چه په دغوټولو باندی دغوټۍ ژوندګی مرتبه شوه !

دسحر نری شمال په دې غوټۍ ورو ، ورو ، دشفقت لاس تېرو لو ! دشپې
پرخې وربانډی خپله درافشانی کوله ، چه څو دشمال په ډېره دلاساینه
غوټۍ خپل شین داوڼ له مخه لیرې کړ !

دچمن طراوت ! دمرغانو نغمو ، داسمان دشنی فضا لا انتها ئیت
دنمر زرينو پلوشو ، دسپوږمۍ مرغوبيت ، دستورو مرموزو اشارو ، او د کائناتو
نظام ته يې و کاتهٔ . او په نیمه خوله یې وخندل !

چه څو بیا دې خوله خنداته جوړوله ، نمر دماسپښين ځای ته راغلی ؤ ،
غوټۍ دده خواته مخ واړاوهٔ او سريې ټيټ کړو !

کوم وخت چه دنمر پرېواتهٔ له پلوه دنمرد طلائی پلوشو سره دنسیم
په لګېد ودغوټۍ ناز کې پاڼې رپېدې ، نودې په داسې آواز چه ایله
دشاعرد زړه غوږونو اورېدی شو ، ويل !

پاکی تا اره ده ای خالقا ، ای د کائناتو صانعا ! ستاعالم څومره ښايسته

دی ! څومره ګلالی دی ! او څومره وسیع ؟ مګر ای خاونده! زما د ژوندګی وار هم داؤ ؟

(پس له لږ سکوته) با داره ، پاکی تالره ده زه راضی یم چه ستاد بی انتها ملك یوه ډېره جزئی برخه په ما ښایسته شوه !

ستا د مخلو قاتو دستر ګو طراوت و ګر ځېدم ! بلبلان را باندې وچغېدل : بوراګان را باندې والوتل ! ډېره ثناده تالره چه زه ګل یم اواغزی نه یم !!!

د مردغروب په حال کښې ؤ، ګل، خپل زړه په خپلو مړاوو پاڼو کښې راونغښت، او د خپل حیات په وروستنیو لمحو کښې یې یو وار بیاد اووېل:

«ډېره ثناده تالره ای خاونده چه زه ګل پیداشوې یم اواغزی نه شوم !!!» - اوورژېد !!!

جلال اباد ۱۳۲۱

# نور هم صبر وکړم ؟

زه منتظر یم او تاته !
ماساعتونه اوشپې تېرې کړې ،او تاته مې کساته!
زما په زړه کښې ډېرې خبرې وې - آرزو ګانې وې-اودر دو نه وو!
تاخو ماته څه نه وو ویلی-مګر ماډیر ساعتونه وایستل-زه منتظر یم او تاته!
زما او ستا په مینځکښې هماغه پیمان موجود ؤ، چه شوندو یې داظهار
منت په ځان نه ؤ منلی : ـ
هغه یو ګل ؤ چه لا نه ؤ غوړ یدلی ! ـ
هغه یو سحر ؤ چه لا نه ؤ خند یدلی ! ـ
یوارمان ؤ، او سربسته ! ـ
زه ددغه ارمان دپاره منتظر یم او تاته !
لاروی راتلل او تیر یدل ! ـ
هغوی به په ځیره ځیر ماته کاته، او تمسخر به یې کاوه ـ
مابه له شرمه چاته نشو کتلی!ـ
ډیر خلک راغله او تېر شول ـ
دقیقې او فرصتونه لکه دلاس مرغۍ رچه والوزی ولاړل! ـ
زما آرزوغم شوه، اودزړه په سر غوټه ـ
بیا ،لانور هم صبرو کړم ؟ ـ
بیا ـ مګر ......
«تر ګله » !!!

جلال آباد ١٣٢٦

# داو ښکو ارزانی

که غله اوارتزاقیات قیمته شی خو د فصل په راوتو رفع کیږی- که کالی اولباس قیمته شی نو بیاهم څه نه څه گوزاره کیږی خلک وایی : «بربنډله لاری اوړی، وږی نه اوړی!- که فیشنی شیان قیمته شی نو قیمته دې شی کنه !—

«تجمل بیل شی دی او زندگی بیل شی»

که اسعار قیمته شی نود دولت په تصمیم یی علاج ممکن دی چه غیر ضروری اوړی دو یمه درجه شیو نه له استعما له وغورځو ی !

☆ ☆ ☆

که دا ټول شیونه په یوه سویه ارزانه شی نویو مملکت دپاره درفاه او آسایش وسائل لاس ته راځی. - اما اجتماعی سعادت او خوشبختی دغه وخت هم نه حاصلیږی -

دژوند سعادت او خوښی، دمادیاتو په زیاتوالی او ډیر والی دومره اړه نه لری لکه د ضمیر په ازادی او دروح په خوشحالیء پوری !

په ژوند کښې خطرناک او مدهش حال دادی چه او ښکی ارزانه شی : ویره ، د هشت ، او درد موجود وی اودو انه وی !

په طب کښې د هر درد ، خوږ ، پرهاراو تپ علاج شته ـ مگر نه دزړه ددرد ،او زخم !ـ دزړه د درد علاج بخپله دزړه درد دی ،او بس !

داوښکو دارزانی ؟ علاج ، دپول اوپیسو دارزانی ء غوندی نه دی چه داقتصاد کوم ماهر یی علاج و کولای شی! او نه دزراعت متخصصان په دې کار پوهیږی !

بی در دی په یو قوم او جامعه کښې داسی یو مرض دی چه په علاج
بی فقط پیغمبران پوه شوی دی !

☆ ☆ ☆

ای خدایه مونږ نه هغه زړونه واخله چه د مظلوم او بی وزلی له
ستر گو څخه په عبث توئیږ ونکو مرغلرو نه خوږ یږی ، او هغه لاس
او پښې او ژبه مه را کوه چه بی لاسو او بی پښو ته صدمه رسوی او
خلک ژړ وی !!!

کابل ۲۷ دجو زا ۱۳۳۵

خیالی د

# نا کامی

دژوندانه دنا کامیو څخه مه‌ما یوس کیږه . !

هغه‌ژوند کامیاب ژوند نه‌دی چه‌تل کامرانی لری . هغه خوشحالی سړی نه خوشحالوی چه ددرد اوخوږ په‌بیه نه‌وی اخستل شوي !-

دور ځی رڼائی دشپی له تیرې څخه ده !

دلید وخو ند دبېلتانه په غم کښې - او دژو ندانه فتحه دژ و ند په ماتی کښې‌ده!

هغه چه له خدایه ابدي راحت غواړی ، هغه دیوداسی جنت آرزو لری چه هلته دلیدو دپاره ستر گو پرانیتو ، او دخوړلو دپاره خو لې بېر ته کولو ، او دار ویدودپاره غوږاېښودو ته‌اړه نه وی ! -

ترڅو چه ژوند ، ژوند دی ؛ نو په دې کښې بر کت له حر کت څخه دی !- ځکه: کامل‌سکون کټ‌مټ مرگ دی ! -

هغه چه وا یې په دې دنیا کښې بدی ولې شته ، کمی و لې ، او بندیزو نه و لی ؟ - نودی په‌حقیقت کښې دنیکی‌دپر یمانئی ، اوازادئی قدر نه پیېژئی ! -اوددې مرغلرو پوره قیمت ادا کول نه غواړی !

هرڅومره چه یوه خوشحالی‌شانداره وی ، هغومره هغه‌لیار ې هم سختې وی چه دهغې‌دحصول دپاره لنډ یږی !

دژوندنا کامی‌په‌حقیقت کښې‌هغه کسان‌غواړی‌چه‌د کامیابی‌وړوی !

# پټې او ښکې

ستر گې دې پټې کړې ؟ - بیایی نه غړوې ؟ - خوابدې شوې یی ؟ - دادې او داداغبز بیا نه کوې ؟ - مروره شوې یی ؟ - بیانه پخلا کیږې؟ د خپل مو ر و پلارنه دې زړهٔ بد شوی دې ؟ - زړه دې تور شوی دې ؟ . . . . ستر گې دې پټې کړې ؟ - بیایی دسره نه غړوې . . . . . زبیدې لورې ! . . . . .

تاخپلی خوزی نیمکله نیمکله خبرې- دنازمنهې رامنهې بس کړې ؟ نورمازیگردپلارمخی ته په منهه منهه نه راځی ؟ تانوره دمور وپلار غېږ ! دمینې دپاره کافی ، اودستر گوغړولودپاره مناسب و نـه لیده ؟-

ته پوره شوې چه دادنیاله مینې شخه اغراضودپاره ډېره مسا عده ده ؟ ته و رسېدې چه زمونږ په دې خړه دنیا کښی هر څوك د ځان دپار ه ژاړې ؟ - اوچه اوبه ترستونی راشی نواولادهم تر پښولاندې کوې ! - او درځر گنده شوه چه زمونږ په خړه دنیا کښی خلك داولادونو په سرعزت او دولت حاصلوې ؟ - اودر ذالتونو په ارتکاب سره دشرافت د گټلو پسی گرځی ؟

ښه نو یوزل بیاستر گی وغړوه، دطلائی وینښتو ، سور کـکی شلیدلی کمیس سره په منده منهه راشه ، یوزل وخانده ! اوراته ووایه چه تاشنگه په څه کم دوه کاله عمر کښې هغه اسرار کشف کړل اوهغه حقا ئق دې وپېژ ندل چه پلا ر دې په ٥٢ کا له کښې پر ې نه دی پوه شوی ؟ - ستادومره زردایقین شنگه حاصل شو چه زمو نږ د د ې خړ ې دنیاڅول

حرکات ، ټول افعال ، ټول اوضاع غرضي ، تصنعي او مطلبي دي ؟ ـ ته څنګه زر پوه شوې چه دلته په خنداخوله بېړته کول په کائناتو پورې خندا کول دي ؟ ـ تا ته دا راز څنګه فوراً منکشف شو چه مونږ ټول دقیقو خواهشاتو غلامان یو ؟ ـ تا ته زمونږ دا نفسي کیفیت څنګه دستي درڅرګند شو چه زمونږه لویه هوښیاري داده چه د خپلې خېټې د کند وډک ساتلو دپاره د خلکو په شرف ، ناموس او حیات لوبې وکوو ؟ البته تا ته دا څرګنده شوه چه چېرته چه نر د ښځې قدر قیمت نه اري نو هلته به د ښځې څه قیمت وي ؟ ـ ته په دې پوه شوې چه په نیم قرن ژوندون کښې چه د چا نارینتوب او ښځه توب نه معلومېږي نو هلته سترګې غړول څه فائده کوي ! ـ

ستا یقین راغلی چه چېرته چه ښځه تش د نفسي خواهشاتو آله او دیو بندي مربی په شان وي او د مال غوندې بازار ته عرضه کېږي، نو هلته د طفولیت نه سړیتوب ته تګ کول له سړیتوب به تېښته ده! نو ځکه دې ددې ځملې د مخ نه د هغې خېټه بهتره و ګڼله! ـ سترګې دې پټې کړې او تر ابده پورې !....

زه پوهېږم چه ته په حقه یې ! تا د خپل شاوخوا د بې مزې، بې معنی ، پوک ، په غم لړلي پوچ ژوند څخه مرګ بهتر وګاڼهٔ لاړې، او په حقیقت کښې دې زمونږ په نه تلو و خندل ! ـ ته په حقه یې ځکه چه ستا شکېدلی کمیس زمونږ ټول قدرت څرګندوي ! ـ تا ډېر ښه وکړهٔ چه د مرګ دومره اوږده لار دې چه پلار دې په نیم قرن کښې طی نکړه تا په څه کم دوه کاله کښې ووهله! ـ ته د حیات د مراحلو په لنډولو کښې له مونږه چالاکه وې

.... تا د بـر ق په ســر عت هغه لا ر ه و و هلهٔ چه مو نبز و ر با ند ی ځنبېبزو- اخرځای خوهماغه‌دی چه‌تهٔ ورته مخـکښې و ر غلی !-

مـګر دا مې، ار مان دی چه‌تا ته‌د مر ګ مدهش هیـکل خپله تو ره مهیبه خوله‌وازه کړه اودر نزدې کېدو، نوتابه‌ضرورشاو خـواته کتلی وی، ته‌به ډاریدلی یی،او ادې‌ادې،اودادا،به‌دې ناري کـړې وی، لیـکن په‌دغه نیمه‌شپه کښې نه‌تاسره ادې‌وه،او نه دادا چه ته‌یی په غېـبزه کښې نیولې‌وای په‌تایی ژړلی‌وای،او اوښـکی‌یی تویی کړې‌وای!ډیر افسوس دی چه‌موردې‌دشفاخانی‌په‌بله خونه کښې له‌ځانه‌بیځانه‌پرته‌وه.-اودادادې دواورو دیخ بادپه‌زغملو سره ترنیمی شپې‌په دروازه کښې‌ناست ؤ! - اما تایوازې‌اودېیکسی‌ءپه‌عالم کښې‌ساه‌ور کړه‌اوستر ګی‌دې‌پټې کړې!-ښه‌ده ستادې په‌مخه‌ښه‌وی،ورځه هغه‌ځای‌ته چه‌هلته‌داشیو نه‌هېڅ نشته!!!

کـابل- حوت ۱۳۲۲

# سیلانی مرغۍ

سباوُ ـ نمر ایله دغره لهڅوکی څړیکه وهلې وه!
دباغ زیړی، ونی دنمر پهطلائی شغلو کښی داسی ښکاریدې لکهښکلی
پیغله چه پس لهمرګهدسروپه ګاڼو سنګارشی !ـ

دسباوُن شمال دونو پښه پهر کاب پاڼی ریږد و لې، تا به ویل: تبجن
ناروغ دی سړه لړې اخستی !
دونو له پاڼو داسی نری غمجن غږ پورته کیدو لکهد کمزوری ناروغ
ز ګیروی !ـ

دونو پهڅانګوسیلانی مرغیډوغی ډوغی جوړه جوړه ناستی وې !ـ
چو پهچپیاوه دپاڼولهشر نګا،اود کوچانود کېږو دتګ لهآوازوڅخهپرته
نورڅهنهاوریدل کیدل !
یوې مرغۍ دوزرله ښګوسرراوایست وچغیدهـ لکهچه ویل ئې :
ساړه دی! بلی ویل:
هو، خزان دی.اوس د کوچ وختدی . څلور می ویل :
تازګی ولاړه او ګلان مړاوی شول !

دوی یوې بلی تهو کاته اوپه نرو نرو ښکلو اوازو نوئی دباغ زیړو ونو
اومړاوو ګلانو ته(دخدای ښه)وویل ـ اولاړې! دلتهدوه مرغیپاتی شوی
هغوی وویل: دازمونږ جالهده. دلته مو کوردی. دوی ویل: مونږ دسړو
تودو له کبله خپلهمینهاو کور نهشو پریښودای:ـ دوی خپلو بچوتهنصیحت
کاوهچه زړونه ټینګ کړی، پهښه او بده کښی خپله ځ له پرې نږدی،

دوی‌ویل : خزان تیریدونکی دی اوژمی هم : - پسرلی‌به راشی ،
گلان به وغوړیږی ، شنیلی به وتو کیږی او بیا به‌مرغۍ راپیداشی .

دوی‌ویل : خیردی سیلانی مرغی دي‌په پسرلی زمونږ له باغه‌خوند
اخلی ، زمونږ دباغ میوی دي خوري خو باغ زمونږه دي - په مونږ
داباغ اوددي‌باغ باغوان گران دی ! هو ، دوی‌ته داخزانی‌باغچه‌جنت‌ؤ
ځکه چه دسیلا نی مر غۍ نه وي اودجالی‌سره ئی‌مینه وه !دسیلا نی
مرغیوپشان ئی دبل دباغ ثناخوانی نه‌شوه کولای !

دیبوزلواویتیمانوغوندی له‌یخنۍ ریږدیدلې‌خوجاله‌ئی نه‌پریښووه !

# بندی توتی

دانری‌اوخواشینی اوازونه چه‌اوریدل کیږی،داد څه‌شی دی ؟—
آه، دا آوازونه دهغه توتی دی چه‌په پنجره کښی بندی دی !—
وای.دادتوتی‌بچوړی کوم‌ځیګرور له‌خپلی‌ځالی‌رابیل کړی‌دی؟—
آه ،دا اوازونه څومره غمجن اودرد ناک دی ؟

داوړو کی دتوتی بچی دخپل مورو پلار او د خپلی ځالی په یا د څومره ژړوونکی غېزونه باسی !—

اهو ناله کوی‌اوخپلی ځالی پسی ژاړی !

افسوس دی خلک په‌تېر کښی زړونه نه‌لری چه د غسی وړو کی او ناز که زړونه ازاروی ؟

خلک داولی کوی ؟—

دخپلی خوشحالی‌دپاره ؟— خو

د خلکو د غم خوړ لو د پاره دی ځان زهیروی او ځان دی پر ی خوشحا لو ی کنه ؟ — تاسف دی دخلکوپه بی‌ذوقیء !—

# دستورو دنیا

دستورو په دنیا کښی خدای زده چه هغه څه شی دی چه ماخپل ځانته را کښاږی؟ هغه څه شی دی چه هغه ته گورم یو مضطرب اطمینان می په زړه کښی ځای نیسی؟ — زه وینم چه دغه ستورو کښی څه داسې غلی او چوپ دی لکه دخیال ژور والی، او څه داسې خړاوړې دی لکه د تیرو ورځو یاد! —

څه را نه او ځلیدو نکی دی لکه دپا کې زړ ې او صاف باطنی محبو بې ستر گې! او څه داسی بریښی لکه دهغې مور د مینې ډ کې ستر گې چه دور کې اولاد پسی چه ناریې وهی او داو ښود ه کې شی!

ښه نو! په دې آئینو کښی دانسان دژوند عکس ښکاری؟ یادا! چه دا ډیوې زمونږ په غم او ښادیو باندې خپله رڼا غورزوی، او هره شپه په اشار تونو او ستر گکو نو زمونږ ته څه وایی؟

که دانه وی نو بیا ددې ستورو په دنیا کښی نور څه دی چه ماخپلی خواته را کښاږی چه ورته گورم نو زما زړه کله غمجن شی او کله خوشحاله! زه پوهیږم چه زه یو مسافر یم، دسمې لارې نه او وښتی، او که څه هم خلاص او پرانیتی یم، مگر دخپلو رنگارنگ خواهشو په رسیو تړ لی یم د دنیا په قسما قسم خوندو مین یم، لیکن دخپلوا کثر وقو تو څخه بی خبر، د هر شی طالب (غوښتو نکی) یم لیکن دهغه دموند او سره دخپلی آرزونه بیز ار، زما ورځی دهوسایی او سکون نه خالی دی، او زما فضاد تخیل دالو تو دپاره تنگه او نا مو زونه ده لیکن زما دپاره دخوشحالئ یواځی یو سبب موجود دې: څه — ؟ هغه دا — چه ځما شپې

تراوسه په دی حیرت کښې تیریږی چه گوندی دحسن په دې لوبوونو
کښې هغه رنها چرې پټه یا ښکاره موجوده وی چه زما روانداوسوی
قسمت (بر خه) یې لټوی ؟ او هغه عصمت به پکښې چیرې مونده شی
چه زما په گناه ککړ زړه یې پلټی ؟ او هغه راز به پکښې ظاهر یا
مستور ایښی وی چه د هغه پسې زما زړه په تلوسه کښې دی او تڼپونه
وهی ! ښه نودنا کراری، څخه گوندې چیر ته دپټیدو ځای نشته ؟ ـ او
که رشتیا دانه وی نود ستور وپه دې دنیا کښې نورڅه دی چه ما خپل
ځانته را کاږی ؟ ـ

زه په دې پو هیږم چه زماپه ژوند کښې ترټولو ثابته جذبه، دعشق
جذبه ده ، اوپه مخلوق کښې رښتینې جلوه، دحسن جلوه ده ،اوزه ددې
هم احساس کوم چه هر کلمه زه په دې لیرې لیرې رنها ګانو نظر اچوم
نو زما په جذبا تو کښې تلاطم پیدا کیږی او زما ژوندون وران ویجاړ
ښکاری، په هغه وخت کښې زمازړه پوهیږی چه ده دخپلو آرزو ګانو
پسې خپل قیمتی وخت بایلو دی دی، او خپل بې بهافطرت یې
دعبث شیانو په عوض کښې خرڅ کړی دی؛ یوه زمانه داسې تیره شوه
چه مامینه دغرض سره ملګرې ومیندله ، وفامې دبیوفایې سره یو ځای
ولیده، ضمیرمې دخپل نفس سره لاس و ګریوان ولید، زمادعمر خوږې
ورځې داسې تیرې شوې !ـ افسوس ! لیکن ډیر شکرونه دی چه یو
مسرت تراوسه مادپاره باقی دی: چه زماشپې او س هم په هغه ښکلو قندیلو
رنها دی چه دهغو شغلو زما په غمجن زړه کښې نوې آرزو پیدا
کړ یده ، زه وپوهیدم چه دانسان دژوندانه صحیح سکون داضطر اب
سکون دې ؛ زه پوه شوم چه آرزو د څه آسان شا نې حصول دپا ره

نه ده ، عشق دیوارزان وسل دپاره نه دی ؛ اوزه‌ورسیدم چه رښتینی کشش هغه دی چه تل زړه خپلی خواته را کاږی . رښتینی آرزو هغه ده چه تل دتکمیل په تلاش کښې وی ، او رښتینی محبت هم هغه دی چه دمحبت دمدعا دپاره پرله پسی جد وجهد وکړی ـ او دغه جد وجهد دژوندانه مآل وګڼی !

# سیلاب

اوه ، داڅومره تیاره ده ! څومره توره وریځ ده په دې تسکنده غرمه کښې دومره تیاره ! – ته به وایې چې د تروږمې ماښام دی !!!

د نمر خاته او نمر پر بو اته له خوا توري تورې څو ټوټې وړي وریځې ! – او څومره په سرعت حرکت کوي ! – رڼا هیڅ نشته !!!

اوهو ، غرهار ، ږز هار ، سړی به وایي چې ګوندې کوم لوی ښار بمبارد کیږي ! – اوه ، بریښناګانې ، داسې ښکاري لکه داور مترو کې ! یالکه آتشي ښېښې چې په کوم ځای ور ول کیږي !

سخت حال دی ، بده ورځ ده ، اوضاع ډېره خرابه ده ، ددې وریځې د شان سره باران ، ږلۍ ، تندر ، او سیلاب لازم بریښي !!!

آه د سیلاب مخه ، او دغه کلي ! داڅوك دي ! داولې داسې بېخبره دي ، ولې ته هیڅوك خوز یدونکې نه ښکاري آوازونه – نه اوریده کیږي ؛ داولې ؟ – د خدای دپاره – دوی ویده دي او که مړه ؟!!

دغه دی سیلاب راغی ، دغه یې مخه ده ، تون به ووسي ، آه ، په دوی کښې به ماشومان وي ، ښځې به وي ، ښکلې ښکلې نازنینان به وي ، دارماندونو او آرزو ګانو ډکې زړونه به وي – ټول به یوسي ، آه ، بربادبه شي !!! هلۍ ، ویښ ئې کړی ، ورغبږ کړی ، چې څه چاره وکړی ، دومره غفلت ! – داغرمه اودادروند خوب !! – آه ، داټول ویده دي ! – ټول ویده دي ؟!!

فرض کړو چه څومره غرېږي، هغومره نه وريږي، توره ويرول کوي او سپينه وروول کوي، څومره چه وايي هغومره نه خيږي، مگر بيا هم په لوړو غرونو خو باران کيږي، او اورېږي ! او ددې نتيجه سيلاب وي . هر کله چه وي دا سيلاب به راشي او تول به يوسي !!!

دا چه «د سيلاب مخه چا نيولې ده ، سيندونه چا بند کړي، بل ځاى هم نشته او نه د تيښتې لار چه څه وي هغه به وي . » بې همتي ده !

سيلاب خو کلکو کټانو او تړوسره انگيږي مگر ددې تري کوي !-

دانسان عزم ، همت او اراده د زمانې د سيلاب مخه لا هم گرزوي ، باتي لا د باران سيلاب ! او اسمان تل د همتنا کو دارادې په موافق حرکت کوي !!!

## ﴿ دژوندانه طلسم ﴾

بس ! دمداؤژوندون ؟ » زوړ سړی دژوندانه په ننداره ناست ـ خپلو
آرزو ګانو بیړی ء یې تابونکې لیده ، سوړ اوسیلی یې وایست ، او داخبره
دده دزړه دعمق نه داسې راووته لکه په اوبو کښې چه بوشی ډوب شی
اوداوبو په سریې څو بربړی ء څرګندې شی ! دماښام وخت دی اودلته
دژوندانه ماښام دی !

په اسمان باندې دلبزوور څوسپوږمی ء خپله ښایسته کې رڼا خپره
کړیده ، مرغی ء په هاله هله خپلو جالواودشپې ځایونه ځان ره وی ؛ لمر
لوېدلی دی ! دغه دی داتنکی ء سپوږمی ء چه دتیروپه لمړنیوڅوړسکو
باندې لبزه شانی پازه غورزولودپاره دنیاته راغلې ده ـ پرې به وړ ځی ـ
او په هرشی به تورتم شی !

دزاړه په زړه کښی همدیولطیف احساس ځلك ترڅه وخته و ځلید ،
دده د ښکلې [ ځلمیتوب ورځې تیرې دی ، اوس به دازوړوالی او دهغه
احساس هم تیرشی ، اودده روح به دخپلې وروستی ء استوګنې د ځای
وخواته وزرونه خپاره کړی وا بــه لوزی ! دځانــه سره یې ووې :
ای ژوندونه ! ته همداوې ؟ » ده بیاسـ وخوزاوه ، ویې ویل ته تو که یې
او که نه ! لیکن ځوانی خوارومر وتو که ده ! »

دایې وویل زوړ سړی غلی شو ، نور څه یې دخولی نه وانوریده
شول نی هغه او بوته په ځیر شوچه دبیړی په ډوو لګیدې ؛ دده رباب :
دده هغه دخوشحالی ء ملګری چه درست عمر : هرسبا ما ښام به یې ددارمانو
سره په یوږغ غږیدو دده لەلا سه وا ویده !

بیړی ء په تلو کښې ده، زړه خوار خفه او غمجن دی، لیکن بیړی ء
والا خوشحال او په خندا دی ! ـ

دا صور تو نه شوك دی ؟ زړه واي خفه دی ؟ ښه نو ادی دد وی ء
د جلا کیدو په خیال غړندی ؟ ـ نه! ـ دی غواړی چه که خدای و کړی
زر ترزره دده دستر ګو نه پټ شی او ددوی ء یاد هم دده د پاتی ژو ندا نه
څخه د غلط تـوری غـونـدی لیری شی ! ځـکه ، چه دا هغه
زړه غلو ونکی شیان دی چه د ځلمیتوب د نشې په زړ ځو کښې هر وخت
دده د زړه نه چاپیره وو ؛ دده په زړه یې پرده غوړو لی وه ، ده دا د مان
کا وه چه زما ستر ګی د حقیقت تصویر وینې ، څه چه وینم هغه هما غسې
دی هم ! ـ ده د دنیا په رنګو نو کښې خپل زړه رنګ کړو ـ او د هغه
رنګ ور کولو څخه یې د ژوند په ښایست سره تعبیر و کاوه ؛ د نیا د خوشحالیو
یوه سلسله جوړه کړه : لمړی د ښایست سبا خپل جـلی نور خپور کړ ،
بیا ـ رنیا شوه نو د عشرت وریځ په فضا کښې خپله چتری ء وغوړوله ،
وریځ ور که شوه ، بیا نو د مستیء رنګ د سری زرغونی په شان په اسمان خپل
تال واچا وه ؛ د ژوند ور ځ په دغه ډول تیره شوه ؛
اسمان شین شو چه وی لیده ما ښام نژدې دی ، نو ور څر ګند شوه چه دغه
زړه غلوونکی شیونه په اصل کښې د ځوانی ء تیرا یستنی وې ، چه وو یو
څه ، او ښکاریدل بل څه ! کـله د زړه د مجلس رنګ ورو نق په دو ی
سره ؤ ، اوس دد وی تلمی لیرې شول نو د وی ء خپله د دې مجلس نه مخ
واړاوه طاقت ، قوت ، بدوایی ، عشرت خودی ، از ادی ، ترقی ، ښایست ، مینه
غال ، علم ، باور ـ ددی ټولو پټ ښکاره شول !

حیات زړه څه فرض کړی و ، اوڅه یې ومیند ! لیکن پوقوی رو ح ته د حقیقت په لیدو کـله ضعف پیدا کیبزی؟ ژوندون پیشکه یوطلسم دی چه ماتیبزی ـ خو دیوزړورانسا ن دپاره څنګه ښکـلی دی دا طلسم، او څنګه خوندوردی داماتیده اـ ؟

خبریده دهوښیارزړه دپاره لوی تسل دی اودحقیقی ژوند دپاره مرګ هیڅ وخت مرګــ نه د ی ! !

ـنیا ۱۰۰۰

# خوندور خوب

مازیګر نمر په غرغره دی! دانګړ په منځکښی! د ګلانو د کیار بو په غاړه!
وړو کی ماشوم په لوبو بوخت دی، په لمن کښی خاوري اخلی او یوه
ځایه یې بل ته وړی! او هلته یې غونډوی!!!
مور کاله په کار اخته ده! په ډېره بېړه لګیاده، کالی کونډی سنبالوی
ځکه چه ماښام دی! او وخت ناوخته دی!
د کار په منځکښی یې چه پام شي نو غبز کړی چه «زړګیه څه کوې راځه
نا وخته دی! هله ځاردي شم!!!» ماشوم په خپله نیمګړې او خوږه
ژبه وایی: «ډوډو! پکه کم!» مور: «څه کوې؟!»
ماشوم: «ډوډو پکه کم!» - یعنی «ډوډۍ پخوم!» مور د کاله په
کارو بوخته او ماشوم په خپلو لوبو! - وړې وړې مرغۍ چه په کیار یو
کښی یې توپونه وهل - خوشحاله خوشحاله او جلتې جلتې ګرځېدې، یوه یوه
والوته! او ټولې خپلو بچیو او ځالیو ته لاړې!
وخت تېرېږی: نمر ولوېد: له ښکلی تیاره راپورته او ځمکې په مخ راخوره
شوه! د آسمان په شنه او نامحدوده فضا کښی ځای په ځای ستوری
را ښکاره شول!
مور، چه د کار دېرې نه خلاصه شوه او ځانه سره یې و ویل: «آه، ماښام
دی - تېر غونې شوه، بچې مې هلته اوبې کوی! آه زما هېر شو یلی!»
ورغله څه ګوری -: ماشوم د خاورو نه وړې وړې او پلنې پلنې ډوډکنۍ
جوړې کړېدی!

خړپړ پروت دی، چه ستړی شویدی! په خاورو کښې یې سر ایښې دی
او دخوب دقاصدانو لاس ته یې ځان سپارلی دی !!!
دما ښام په خړه تیاره کښې ددردخپل ماشوم سرته و لاړه ده! زړه یې
دیو عالم ترحم اورقت ته ړ ك دی! او چرت وړې ده!
«هو!ـ دژوندانه مثال همدادی !ـ)
دونبز په خپل ژ و ند کښې همدغسې په خاورو لوبې کوو!ـ په دغه لو
بواخته او سو چه د مر گ د روند خوب په مو نبز خپل چپاورا وړ ی
او بل عالم ته مو بوزی!!! مگر ـ آه ـ شومره خوږې دی دالډ بې !
او شومره خوند وردی داخوب چه په خپله خوښه او آزادی سره وی !!!)

❁❁❁❁

## په خلکو مینه

زه دا نه وایم چه ما ته روپۍ، بنګلې، او غټې چوکۍ را کړی! —

دا شیونه د هر چا نه وي په کار، او زما هم ورسره شوق نشته! —

زه وایم: راځئ چه دا فکر وکړو چه مونږ ولې خفه یو؟ —
خلک ولې یو له بله ژاړي؟ — او آیا مونږ دا نه شو کولی چه ژړېدونکې سترګې د رحم او عاطفې په دسمال پاکې کړو؟ — آیا دا نه شو کولی چه خفه خلک وخندوو؟ —

که دا ټول ممکن وي، نو مونږ د مال، دولت، چوکۍ او د بدبې دزیاتې اندازې د پاره هغه کوشش ولې وکړو چه د عمومي خبګان، یو ترېل زړه بداوي، پیدا، او زمونږ د ضمیر ازادي سلب کاندې؟ —
داسره غسې ارزو ګانې دي! —
زه غواړم چه په دغسې شان تاسو سره وغږېږم! —

زه له تاسو نور څه نه غواړم، تاسو فقط زما خبرې واورئ! —
زه غواړم چه ستاسو په جرګو کښې تاسو سره کښېنم پاڅم، ځکه زما تاسو سره کار دی! —
هغه څه چه په یوازې توب کښې ما ته را ښکاره شوي دي، هغه ستاسو په مخکښې کښېږدم! —

زما دا یقین دی چه ما ته دا یقین بېځایه نه دی پیدا شوی! —
راځئ! زما خبرې واورئ، که ستاسو په کښې فائده وه وئې منئ، که نه نو، په عقل او منطق ئې رد کړئ! —

دادنیاله عشقه‌ده، او په عشق و دانه !ـ
هرڅو کې یوعشق لری!ـ
زماعشق له‌تاسوسره دی !ـ
داخبره نااشنامه گڼیء!ـ

باورو کړیءچه زه دژړیدونـکوستر گو سره ژاړم ! ـ کوم وخت چه زه دخوشحالیءمظهروونیم خوشحالـیږم ! اوچه دعظمت مظاهر گورم کله را باندی رقت‌او کله ترهه‌غلبه کوی ـ زه‌پوهیږم چه‌په دې شین اسمان ، هواره ځمکه ، گڼو ستورو ، لویوغرونو ، روانوسیندونو ، حیرانو ږاگونو ، شنوفصلونو ، حیواناتواونباتاتو کښی څومره‌دعبرت ، جلال اوجمال مناظر موجوددی ! ـ

داموجوداتټول گویادی، ټول‌خبرې کوی !ـتاسوور باندی‌پوهیږیء که نه ؟ ـ راځیءچه‌زه تاسوته دژوند اوزند گیړله‌اسرار وڅـخه بحث وکړم ! ـ دعشق اومینی لوبه دروښیم ! ـ

و گوری پورته فضاء څومره رنگینه ، وسیعه او حیرانو ونکې ده راځی! ـ چه‌هلته‌ولاړشو !ـراځیءچه‌دغره‌په‌سروخیژواولاندی ښارونه و گورو ! ـ

داچه مونږ پکښی اخته‌یو،څومره‌وړې وړې اوناڅیزه‌خبرې دې ! ـ دپنځلسمی سپو زمیءنوی‌سروهلی‌دی، هرڅهٔ‌دنسترن په گلانو کښی پټ‌دی،فضا خاموشه ده ! ـ

راځیءچه‌ستوروته و گورو، اوخبرېور سره‌و کړ و !ـ

و گوریءدادنیاڅومره ښکلې اوښایسته‌ده! ددې دنیا نه مخکښې او وروسته بهٔلاڅه‌وو ، اووي به ؟

گوري، لېزغان وزگار کړي، اوز ماخبرې واوري ! ـ

تاسو ولې دژوند حقيقت هير کړی دی ؟ ـ مادر پر ېږدي، چه درسره وغږېږم ! ـ که تاسو نشي راتلی ، زه به درشم ! ـ

هو ، زماخبرې واوري او فکر وربا ندې وکړي! زمادتو لـو فکرونو حاصل تاسی یاست! ـ

زه تاسو غواړم ! ـ ځکه چه تاسو زما قـوم یاست ! ـ اوزه په تاسو مین یم ! ـ کټ مټ هماغسی لکه مورچه په اولاد مینه وی ! ـ

مهر باني وکړي، تاسو زما خبرې واوري ! او له ماهغه څه مه غواړي، چه زه ئی له تاسو نه غواړم !

(په يولوی محفل کښې يونری سړی پاڅېد او دا تقريرئی په نرمه او رقت انگيزه لهجه واوراوه ، حاضرینو ځينو ژړل او ځینو خندل ! مگر ځینو يو تربله و کاتهٔ اووی ويل :( دروغ نه وايې په انسا نانو کښې دغه مقام شته ، او داسړی « شاعر دی ! »

کابل جوزا ـ ۱۳۳٤

# دکوتری صوفیانه ژوند

کوتره خپلو بچوته نقل کوی : کوم وخت چه زه دجهان لههرشه اوبده بیخبره ، دور کوتوالی اوصباوت په غفلت کښې له دنیااو مافیهانه آزاده اودمور وپلا ردسیو ری لاندی دبیغمی، په تخت ناسته وم، نو هغه وخت ما دا خبره اوریدلې وه « په دنیا کښې باید دعمر تیر ولود پاره داسی لارو کتل شی چه بیخی بیخطره اوهیچاته پکښې آزار نه وی ، او په کار دی چه سړی د محبت ، لطف، مهر بانی ، همدردی اونرمی مجسمه وی ځکه چه په دنیا کښې که خوږشی دی خو مینه ده ! جنګ جګړې عمر بی مزې او پیکه کوی ، بد نیتی او فساد په طبیعت غالب کوی.» نو دژوندد اپرامن فلسفه مې خوښه شوه، ځان دپاره مې خپل کالی او د«یاهو!» دویلو دپاره مې دلوړوونو څو کې خوښې کړې، نه مې په چا کار اړلی دی نه غرض ، نه می چاته ضرر رسولی دی نه تکلیف، نه می دچرچنړو پشان دچاشولی خوړلی ، اونه دمینا ګانو په دود پردی انګور اوانځر ! زه ومه خپله جاله خپل بچی اودخدای یاد !

اکثره وختونه می چه نور څه نه دی میندلی نود خاروپه شمکو می قناعت کړیدی ، یامی په تشو تلو کښې ګروارې کړی، اودبلبلو په څېر می د ګنګو تو- اودمرغیو په خیل می دملخانوازار نه دی اخستی!

نوپه دی ، دی کښېزما دمقابلی او مـدافعی اسباب دنه استعمال په سبب بدلېده بدلېده اوس و ګوری، ازما بچه منو که ، سری پښې لکه دخیالو تکو پیغلو! زماحالت بالکل اووښتی دی

حوصله مي پسته شوی، او جرءت مي کم شوی دی، يوازې زه نه داسې حالت اوس د توکل قامدی نوڅکه اوس پيښه داده چه :

«دښمنان مو په خپل کور مينه او وطن کښې نه پرېږدي، هيڅ په هيڅ را باندې تعدي او ناروا کيږي، او داسې ناروا چه زه يې هيڅ نه شم زغملی. دشمنانو روښې زمونږ مينې او وطن ته ځان رانژدې کولو، اخرئې زمونږ په وطن دغاصبانه تصرف عزم وکړو! داڅوک دي؟ دا شوده ښځې، چالاکې وزې ستر گې ميناګانی دي : دوير و کلو او مودو څخه چه هيچا ته دهغې وخت او نېټه نده معلومه، چه زمونږ رو مبني پلرونه په دې ښو نو ايسارونو، اوترو کښې اوسيدل، دڅه مودې څخه ميناګانو دغې پلوته پښه راواوږده کړېده، زمونږ په مينه او قام چور او چپاو کوی !... شرم، حيا، او له خدايه وېره نشته، !

نوزمااوس داپوخ يقين راغلی دی چه په دنيا کښې څوك په داسې صلح پسندۍ او داسې متصوفانه ژوند داشرارو له لاسه نه شي اوسيدی، نوعلاج دا دی چه که غواړې په دنيا کښې د خپل قام سره په خپله مينه کښې ازاد اوسې نومښو کواو نو کا نو ته دڅولا دوپوښو نه ور کې، او دادکوترو جامه دباز په جامه بدله کې! زما تاسو ته وصيت دی او تاسو يې خپلو اولادونو او خپل قام ته ور سوی!....

کابل ١٣١٤ —

☆☆☆☆☆☆☆☆

# د گلاب گل

په دنیا کښې دنړا کت ، خوشبوئی‌اوښایست دپاره‌د گلاب گـل‌دهرڅه نه زیات مشهور دی گلونه نور هم بې شماره دی، ولې کوم صفتونه چه په گلاب کښې‌دی هغه دبل یو گل‌هم نه‌دی‌په‌نصیب‌شو ی. لکه‌چه په هم دی وجه گلاب دتما مو گلونو( بادشاه ) گڼلی شی- د مشر ق په‌شاعرانو اوادیبانو کښې خوبه ډیر کم داسې وی چه هغه‌ء په خپلو شعرونو یاپه‌تحریرنو کښې‌د گلاب گل په‌هر لحاظ بهترین‌شی گڼلی نه‌وی ١٠٥٠

یوازې په‌مشرق کښې‌څه‌چه په‌مغربی‌ملکـونو کښې‌هم د گلاب گل ته‌امتیازی در جه خاصله ده او دشاعرئی اوادب ددائرې‌نه بهر دیو.رپ یوعظیم الشان تاریخی‌جنگ‌هم‌د گلاب‌د گل‌سـره‌وابسته‌دی. داجنـگ «د گلا ب د گل‌په‌جنگ»مشهوردی ځکه چه په دې‌جنگ کښې به یوې ډ لې دسپین گلاب گل اوبلې ډلې به دسور گلاب گل د ډلې دنشا ن په طور استعمالولو .

گلاب تقریباًددنیا په ا کثرو‌ملکو نو کښې پیدا کېږی ولې زیات په هندوستان ایران، افغانستان‌منځنی‌مشرق‌اودیورپ‌په اکثر وملکونو اویخو علاقو کښې پیدا کېږی. په دنیا کښې‌د گلاب‌بو دټولونه لو ی بـا غـو نـه پـه بلغـا ر یـه کـښې د ی و ا یـې چـه دبـلغـار یـی گـلاب په دنیا کښی خپل ثانی نه‌لری - دلیر ی لیری ملکو نوخلك دبلغاریې د گلابو دباغونو دلیدودپاره بلـغاریې ته‌ځی ! اودټولوداخیال دی چه‌دومره‌اعلی گلاب بل‌هیچرته‌نشته -

نن ورځ د گلاب و بې شماره قسمونه راوتي دي . او په باغونو کښې رنگارنگ گلاب ليدل کېږي ـ ولې عام خيال دادی چه په دنيا کښې د ټولو نه اول ، خداې پاك سپين گلاب پيدا کړی وچه ترليرې لير ې پورې به تري نه خوشبوئی تله ـ ورو ، وروچه زمانه تېره شوه نوپه خوشبوئی کښې يې کمی راتلو او مختلف رنگونه هم په کښې پيدا شول ـ

نن ورځ سور گلاب ډېر عام دی اوددې سور گلاب په نسبت ډېر دلچسپ روايات مشهور دي . وايي چه څه وخت بی بی حوا يو سپين گلاب ښکل کړو نو ډېر شرم اوحيانه د گلاب په هريو رگ کښې سرخی راغله او دهغې ورځې نه د گلاب رنگ سور شو . اوسره گلاب پيدا کېدل شروع شول ـ دغه شان يو يوناني روايت دی چه يوه ورځ زهر ې (وينس) په ايه و ينس پسې منډه وهله چه په پښه کښې يې د سپين گلاب اغزی مات شو ـ گلاب د ډېر شرم او خجالت نه تك سور شو .

پارسی حکايت دادی چه يوه ورځ بلبله د گلاب په ښايست او خو شبويې دومره مسته او بې خوده شوه چه په سينه کښې يې د گلاب اغزی ننو تل او وينې پرې راما تې شوې ـ دادوينو څاڅکی چه په سپين گلاب پريو تل نو هغه سور شو او ددې نه پس سور گلاب پيدا کېدل شروع شول ـ خير حقيقت هرڅه چه وی خونن ورځ سور گلاب د سپين گلاب نه ډېر عام دی او خلك يې زيات خوښوی .

در نگ نه علاوه دخو شبو يی په لحاظ د گلا بو دوه قسمونه دی : يو سو چه او بل جو ته . په خوشبويی کښې داصلی سو چه گلاب برابری بل يو گل هم نه شی کولی . ددې گلاب نه د دنيا بهترين عطر يات ، او

عرق جوړ یږي . ددې پا تې اوبه په ډېرو ځوانو کښې ددوا په طور استعمالیږي او ډېر فائیده مند ګڼلې کېږي جوړه ګلاب ښایسته او رنګیز خو ډېروي ولې خوشبوئي یکښې ډېره معمولي وي .

د ګلاب ګل دښایست معیار ګڼلی کېږي او دعیش و عشرت په سامان کښې ورله امتیازي درجه ور کړې شوې ده د هندوستان دمشهورې ملکې نور جهان خو ګلاب دومره خوښ وه چه یو ه لحظه به ئې له ځانه نه جدا کولو ـ دحمام په اوبو اودلمبلو په تالا وونو کښې به د ګلاب ګلونه هروخت پراته وو ـ او په هندوستان کښې خوداخبره ډېره عامه ده چه د ګلابو عطرد نور جهان ملکې ایجاد دی .

دیور پ لوی لوی بادشاهان همد ګلاب د ګل ډېرشو قیان وو لکه چه یور ومی شهنشاه ګیلي نوس داحکم کړی ؤچه زما په بستره کښې هره شپه د ګلابو ګلونه غوړوی ـ دده په نسبت مشهوره ده چه یوه شپه چه دی د ګلابو د ګلونو په بستره څملاستو او سحر راپاڅېدو ، نو په ملا کښې یې در دؤ ـ نو کرانو ترې تپوس و کړو چه صاحب څه وجه ده؟ ـ شهنشاه ورته ووې چه بېګاه زما په بستره کښې څه سخت غوندې شیز پروت ؤ ـ بستره ولټولې شوه او معلومه داشوه چه د ګلاب یو ه غوټۍ په غلطی سره په بستره کښې اچولی شوې وه ـ دادپخو انو بادشاهانو دنزا کت حال ؤ !ـ

په یو نان کښې به پخواد «هائمن» نوی جشن په موقعه دهلکانو جنکو په سرد ګلاب د ګلونو تاج پسرول کېدو او شاعر انو ، ادیبا نو او دقوم بها درانو خلکو له به د ګلاب د ګلونو تاج په انعام کښې ور کو ل کېدو . ددې نه زیاته دقدر او عزت بله نښه نه وه .

دغه شان دیورپ په‌عیسایی بادشاهانو کښې چه‌به چادعیسائیت اعلی ترین خدمات و کړل نودروم ستر پاپابه‌هغه‌ته‌دروم دلویې گرجی د گلابو یو مقدس بوټی لیږلو اودابه په‌مذهبی طورسره‌انتهائی اعزاز گڼل کېدو!

ډك دی باغ د گلونه ، یو تر بله ښه ښکاری
زه بلبل گلاب ته‌ځم ، ماته‌نور څه‌نه‌ښکاری

# ای باغوانه

داځنګه پراخ ښکلی اوتازه باغ دی ؟ - :

جګ فولا دی غرونه ، په‌لمنو کښې یې دشودوپه‌شان دسپینو، صافو، رڼواوخوږواوبوویالی لـکه پیغلی چه‌دصحراپه‌سیل‌وتلی‌وی ، دلو ړو لوړ وپولو ښخه رادانګی : کبز ی‌وزی ، په مستئی مستئی ، درو مـی؛ اود ریدیو ، غاټولواو ارغوانوپه‌سرواو شنوچمنو کښې ننو وزی !!! - واه ، ځنګه ښه‌هو الری ؟ . . . . . . .

په‌دی هوا کښې‌زړهٔ خوشحالیږی ، طبیعت غوړیږی ،اوروح تازه کیږی ! دجنت هوا اود جنت میو ی دلته دی - دپسرلی او تاز ګی ء کوردلی‌دی. له‌دی‌ځایه، نه‌ووزی ؛ خوپه نوره‌دنیا کښې دوره کوی !!!

☆ ☆ ☆ ☆ ☆

و ګوری، ددی باغ‌مرغان ځنګه بی‌پروا ، څومره شوخ او آزاددی؟ ... رنګار نګ پیمخی مرغا ن پـه خپله خو ښه ؛ په شنو چمنو لوړوونو اواوچتوغرونو کښی بی‌قیده ګرزی ،سیل کوی ، تفریح کو ی اوسیلو نه سیلو ته‌الو زی . -

ددوی په‌مینځ‌کښی‌دهمدردیء ،خواخوږیء، آزادیء! اومینی‌محبت ټول مظاهرپه اصلی‌صورت سره‌موجوددی ! - دظاهرداریء،دو رنګیء غولونی ، اوستر ګوته دخاوروشیندلواصول‌دلته نشته -

داځای‌دوحشی اومهذبی‌دنیادوا ړه‌رقمه‌غلامیءدداغ‌نه‌پاك اوداسی‌سپین سپیڅلی دی‌لکه دپښتنولیء دنیا !

راځیءو ګوریء: دابڼ ، هغه بڼ ! داچمن ! هغه چمن؛ دااوبه ،
هغه فواره ! داڼنه ـ هغه شرشره ـ دا ګلان ، هغه کیاریء !ـ

و ګوریء : هغه نیالګی ښکه ښایسته نیالګی دی ؟ راځیءچه ورشو
وئی ګورو ! اوه، دا خولو یه ونه ده ! او هـو ، داڅومره لوی ډولری
ـ او بیخو نه ئې څومره لري لري تللی دی : معلومیږی چه په اصل کښی
همدغه یوه ونه ده ! بیخو نه ئې تللی ، چیرته ورته بڼ اوچیرته ورنه
د ګلانو غوړ سکی ته کیدلی دي !

راځیءچه و ګوروچه ددي پاڼی ولی زیړی دی ؟ ولی وده نه کوی ؟
او ولی دغسی لکه چه ښخو نه لری ښاخونه نه لری ؟ ـ
ښه ، ورباندی دنمر رڼا اوحرارت نه لګیږی او که چینجی پر ي
لګیدلی دی ! ! !

دغه سړی څوك دی؟ وینې دغه!ـدا ګوره چه تسکوره او تبر ورسره دی.ـ
دا ـ داڅـه کوی ؟ ـ دا ـ : دا خودونـې بیخ را سپـړی ـ ! اوه ، دا
خو دتبر ګذارو نه ورباندې کوی ! ! ! ای سړیه ! دا څه کوې ؟ مـه ،
ونه دې وا یسته !

اوه ،ته وایی چه په بیخ کښی ئې چنجی دی دغه تری و باسم!ـ نه،دغسی نده
ـ تاخو ټوله ونه له بیخه وایسته،واـ دخدای دپاره ونه یی وایسته!ـ دا سړ ی
څه مطلب لری!مه،مه،وهه!ددی په وهلو ټول باغ زیږیږی! ـبس کړه،ۇنهٔ
وهې!مه خبردار! داویـره شته چـه دامرغا ن د ې ټو نګه ټو نګه کړی؟
دا باغ بېخاونده ندی!داډېرغیرتی باغوان لري!....اوهرچاته ظاهر دی !!!ـ

هلیء گوره، ونه ئې وایسته : په انوبانو ـ او په خنداخندا ـ !
و ا ـ هغه بل ئې په ځانګو لګیادی ! ! ! ـ
اف ؟ یوئې په ډډ لګیا شو ! ـ
ا ه ، باغوان ئې څه شو ؟ ـ
هغه دی له ورایه ګوری ، خو پام ئې نه‌دی ـ !
و ګورئی ، یوئې په‌مخه کښې‌ولاړدی، اوپه‌خبرو کړی‌ئې دی !
هلیء! ورغبز کړیء !ـ:
ای باغوانه ! دخدای دپاره ! ستا دباغ لویه ونه وهی !!! ـ
هـــله ! ! !
زر کوه هله ! ! !

# ددنیاویش

دآسمانو نوپورته خوانه دځمکې داوسیدونکودپاره داندا، راغله :
ای دځمکې خلکو، دنیا زما مال دی خوتاسوته ئې پریږدم پخپل منځکښې ئې په وروروئ برابره وویشئ .

خیالی

زوړاوځوان،عالم اوعامی شهری اودهقان . ټولو رامنډې کړې اوپرې راسره شول ـ دهقان دتخم کرلودپاره دځمکې یوه حصه رابیله کړه ، ښکاری لینده په اوږه کښینښوده دځنګله لاره ئې ونیوه،د تاجرچه څومره دلاسه کیدهٔ خپلې کیسې اوهمیانی ئې دزرواو جواهرونه ډکې کړې ، پادشاهانو خپل حکم اونفوذ، باج اوخراج په خلکو تحمیل کړل د نیا په دغه شان تقسیم شوه اوهرچا خپله برخه واخسته !

یوازی شاعربیچاره ددې لوټ نه محروم پاتې شو خدای زده له کومه ځایه په منډه راغی، ګوری چه هرڅه تالاشوی دی، هیڅ نه دی پاتی. نوپه ژړا فریادئې وو یل.

«زه ووهیرشوی یم؟ سره ددې چه زه دهرچانه زیات ستادرحم اومهربانئ مستحق یم .» ندا: دویش په وخت چیرته وې ویدهٔ وې !

شاعر : زه تاسره ووم .ستر ګی می ستاپه لوراوغوږونه می ستا ملکوتی آوازته متوجه وو ، زماپه بایلودی اومفتون زړه رحم و کړئ، زه حیران اومبهوت ستاپه حضور ولاړیم هرڅه می هیررو !

ندا: چاره څه ؟ دنیاوویشل شوه نورڅه نشته که ماسره اوسی د آسمان دروازی تاته بیرته دی ستاد ګرزیدو اوحرکت دپاره هیڅ حدوداوسر حدونه مه نع نه دی په ځمکی کښی څه کوې؟ ستادروح دجولان دپاره د آسمانونو پورته فضاتیاره ده !

# مینه‌نه گڕم

نه‌مینیبزم ئُکه چه‌مینتوب پرته‌له لێی ءاو ناپوهی ءاو به‌مرغی ءخخه بله نتیجه نلری

نه‌په پسرلی کنبی ئُحان وژنم‌او نه‌په‌منی کنبی خپل‌زڕه خپه کوم. که نیا ۱۰۰۰
گلان وغوڕیبزی او له کنده‌و نه‌سرر اشکاره کڕی‌او یا که‌مڕاوی شی او
په ئُحمکه‌ورژیبزی، که‌لمر پور ته‌راو خیژی،او یا په‌اورو کنبی پټ‌شی زمائی
پری شه ؟!

مین تل د آسمان ستاینه کوی‌او دهغه‌ښکلیتوب په‌رازراز ژبوستائی مګر
زمازڕه‌غواڕی چه‌پر آسمان بریالی شم اوپه‌هغه لویه فضا کنبی آلوتنه
و کڕم‌او بیاله هغه‌ئحایه‌دغه‌نڕی ءته‌و گورم.و لی به‌دبدمرغو په‌شان په یوه
گوښه کنبی کښېنم‌او دئحان‌په‌وير به‌بوختیبزم ؟

غوره‌او ښه کاردادی چه‌دفدا کاری ،جنده‌پورته کڕم‌او دشخڕي دپاره ئُحان
چمتو کڕم . ښائی چه‌زماد کوښښ په‌اثر کنبی‌دظلم ونه له‌بیخه‌ووزی!
گوندي‌دغه امیدمې ترسردشی او کلکې گنډې په‌خپلو گوتو پرانیزم!
دژوندون دوره لنډه ده‌او مرگ مې‌انتظـار باسی، نو بایـد داسی
یو کـارته ملا وتڕم چه زما نوم ترابده پوري‌لوڕ اوژوندی و ساتی !
« هو ـ چیه دچین نامتو شاعر »

# دماتماگاندي افکار

«...... درښتياؤ په عمل کښې رښتيني تسکين دی . صداقت پخپله دصدا قت انعام دی .لەقيمتو شخه قيمته شيز خر شو و نکی دپا رەلکه شنگه چەد هغی نەبل قيمته شيزلاس ته نەرا ځی ، دغه شا ن، رښتيا ويونکی بەدرښتيانەزيات نورشەشي وغواړي؟......رښتياچه کوم ځا ی تەدلمرغوندی ګرمی ور کوی ،هلتەژوندون هم ختم کوی .......»

«....... هغه انسان چه خپله ژبه په وا ک کښې نه شی ساتلی ، هغه د حق مدعی نشي کيدی »

«درښتياؤ نه وروسته پەاصل کښې عدم تشدد پەدنيا کښې ترټو لو لوی طاقت دی. هغه هيڅکله عبث نه ځی. تشددتش دپاسه کامياب ښکاری»

پەتوره او په خدای باندی اعتقا دلرل دوه متضا دشيونه دی

کەچيری عدم تشدد ديادمحبت مذهب زمونږ دژوندانه مذهب نه وای نوپەدی فانی دنيا کښې زمونږ ژوند مشکل کيدو . ژوندخو پەمر گ باندی دظاهری اوپخوانی فتح علامەده .

...... کەچيری دانسان اودحيوان پەمنځ کښې کوم اساسی او لوی فرق شته ، نوهغه دادی چه انسان خپل فرض پيژند لی شی . دتيری او اوس زمانی ښه خلک دخپل تو فيق اوطاقت پەا نداز ەد ژو ند د دغه ډير ضروری فرض روښانه مثا لو نەوو . پەدی کښې شک نشته چه په مونږ کښې حيو انيت کله کلەظا هريږی . مگرد دينەدانه ثا بتيږ ی چەدافريضه(۱) غلطه ده .ددينەتش داثابتيږی چه پەدی باندی عمل مشکل کار دی . دتو ری پەذر يعەچه کوم شی حا صليږ ی هغه په تور ه بيرته هم اخستل کيږی.

---

(۱)دافريضه : عدم تشدد

دتا گورله افکارو څخه

# زما نغمې!

ما په ټول ژوند کښې ستاده‌ونه لو کوښښ په‌نغموسره و کړ .د غه نغمې وی چه‌زه‌یې درپه‌درو گر ځولم اودغه نغمې‌وی‌چه‌ددوی په مددما دخپلې دنیا په‌تلاش‌او احساس کښې‌ته‌، خپل څلورواړه خواومو ندلې !

هغه څه‌چه کله‌مازده کړل‌هغه‌دغه‌نغمې‌وې چه‌دوی ماته‌دار اوښودل!-دوی پټې ایاری‌راته‌بیرته کړې-،دوی‌دزړه‌په‌افق کښې‌راته‌ډیرستوری‌راوخیژول دوی، ټوله ورځ ماته‌دمسرت‌اوغم‌درازونوپه طرف‌لارښو دنه کوله اوماښام‌ئې‌دسفردختم‌په‌وخت کښې زه داد کوم‌محل‌درشائې ته‌راوستم؟

# دسفر تیاری

ما ته رخصت را کړی شوی دی. ای ورونو، ما ته په مخه ښه ـ ووائی. زه تاسو ټولو ته سلام کوم او روانیږم !ـ

دښه ئی د دروازو ټولی کنجیګانی در کوم او د خپل مکان، د ټولو آینده دعوؤنه ابرا کوم اوس زه له تاسی څخه تش د مهربانی د وروستنیو ـ الفاظو د اوریدو په امید یم !

مونږ او تاسی ډیره موده همسایه وو لیکن ما ته همیشه د هغی نه زیات عوض را او رسید شو مره چه ما اور کړل. اوس ورځ تمامه شوه او هغه ډیوه چه زما تیارۀ ګوټ یی رڼا کاوه مړه شوه د طلب پیغام راغلی دی او اوس زه سفر ته تیار یم

## یوه پوښتنه

ددنیا په دې لوی جشن کښې ماته هم زیرې رارسیدلی دی ځکه زه خوشحاله یم. زماستر گو ولیدل. زماغوږونو اوریدل :

په‌دی جشن کښی سازغږ ولماته‌سپارل‌شویدی. هغه‌څه‌چه‌ما کولې‌شوه، ومې کړل !

زه اوس داپوښتنه کوم چه‌تراوسه گوندی‌هغه‌وخت ه‌دې راغلی‌چه زه‌دننه‌درشم. ستاصورت و گورم اوخپل غلی سلام ستاپه حضور کښی تقدیم کړم ! ! ! ..

# وروستی ورځی

زه پوهیږم هغه ورځ به راشي چه ددې دنیا نظاره ماد پاره تمامه شي، او ژوند به زما په ستر ګو، وروستنۍ پرده واچوی او غلی به رخصت شي !–

لیکن ستوري به هماغسی د شپی ځلیږي صبا به هغه شان نمر را خیژی، او ساعتونه به د دریاب د چپو غوندې د غم او ښادۍ حساب کوي او موجونه به وهي !.

زه چه کوم وخت د خپلو لمحو د دغه انجام فکر کوم. نو د دغه لمحو پرده وشلیږي او زه د مرګ په رڼا کښې ستا دنیا او د هغې بی انتها خزانو ته ګورم، د هغې یو ډیر حقیر ځیز هم بیمثله او د هغې ډیر ذلیل ژوند هم بی بها دی !

هغه شیونه چه د هغو بیکاره آرزو ما کوله او هغه شیونه چه ماته ورسیدل هغه ټول پریږده! ماته یوازې په هغه حقیقي ځیزو نو قبضه را کړه چه هغه ما تل پریښی او غور زولی می دی !

# دژوندون مبارزه

هر کله چه محار بین ږومبی زل دخپل ځښتن له ځایه راغلل نو هغوی خپل قوت چیرې پټ کړی ؤ ؟ دهغوی زغرې چیرته وې؟ دهغوی و سلی کوم ځای وې ؟ —

هغوی ء غریب او بیکسه ښکار یدل ـ کوم وخت چه د خپل با دار له ځایه راؤ واته ، نو دغشو باران پرې و شو . ! —

هر کله چه دخپل بادار کورته بیالا ړل نو هغوی خپل قوت چیری پټ کړ ؟ هغوی تورې وغور ځولی ، غشی اولیندی یې کښیښو دل ، صلح دهغو په وچولو کښې ځلیده ، هغوی دخپل ژوندانه ټوی تر شا پریښو دې څه وخت چه دخپل بادار ځای ته بیرته لاړ ل !

# زما دعا

ای زما خاونده،زه‌له تا څخه داغواړم چه:زمالەزړه، څخه دا فلاس بنیادو باسه ! ماته دا قوت را کړه چه دژوند دترخوا وخوږ وبر داشت آسانۍسره و کړی شم ! —

ماته دا قوت را کړه چه بې وزې له زړه‌ؤ نه با سم . او خپل سر د کوم گستاخ قوت په مخکښې ټیټ نکړم !—

ماته دا قوت را کړه چه خپل ځان له روز مره رذائلو څخه پورته وساتم!اوماته‌دا قوت را کړه‌چه خپل‌قوت دمینې‌سره ستارضاته وسپارم!

# زه‌شر میبزم

دملاقات تا کلی ځای ته دتلو دپاره ماتوله لیاره یوازی قطع کړه

لیکن داڅوك دی چه‌په دې چوپی تیاره کښې ما سره را روان دی !

زه ورنه دبچ کېدو دپاره‌لاره‌پریبزدم خونه‌یې‌شم پر ېښو دای !

هغه په‌خپل متکبرانه رفتار کښې خاورې آلوزوی ځی ، هغه خپل

جگ آواز زما دهر یو لفظ سره‌یوځای کوی !

ای باداره ، داز ماخپل مختصر وجود دی ، دی‌خو نه‌شرمیبزی، لیکن

دده‌سره ستادر بارته په رسیدلوزه شر میبزم !

# یوه آرزو

هغه سندره چه دهغی دو یلو دپارهزه دلته راغلی ؤم، بی وینا پاته ده ما خپله ورځ دتارونو په لګولو او جوړولو تیره کړه!

مناسب وخت تراوسه نه دی راغلی- الفاظ لا نبه موزون شوی نه دی تش دآرزو درد په زړ کښې شته!

غوټیءنهدیغوړ ید لې یوازې هوا ساړه اوسیلی کوی، نه ما دهغه صورت و کوت او نه مې دهغه آواز؛ واورید! ما، تش د هغه دو رو قدمونواواز دهغهسړك څخه آوریدلی دی چهزما د کالهپه مخکښې‌دی!

یوه لویه ورځ دفرش په جوړولو تیره شوه، او څیوه تردغه وخته و نه لګیده؛ زه دی کورته نه شم غوښتلی، زه د ده دوصال په آرزو ژوند کوم؛ لیکن دا ساعت تراوسه نه دی راغلی!

❦❦

## بد بخت خوب

هغه‌ر اغی او زما په‌خوا کښې کښېناست لیکن زه‌و یښه نشو م ـ هاې داخوب، ځو مرة‌ه بد بخت خوب ؤ ! ـ پیښه‌دې‌و ی په‌ه‌ـا ! ـ

هغه راغی ، هغه وخت چه‌شپه‌تیا ره‌او کراره وه ـ په‌لاس کښې ی خپل رباب ؤ ـ دهغه په‌نغمو زما خوبو نه‌ممو روو ! ـ

افسوس دی چه ولی زما‌توای شپې دغسې خوشې تیریبزی ـ آه‌زه ولی دهغه چا دید ار په تلو سه یم چه‌رهغه ساه ـ زما په خو ب لګیبز ی او مس کوی‌یی !

# دودې چم

پرزرغونی او پرسیوری پټې مځکې باندې یوه بنفشه تو کېدلې وه - ددې
نارونه کاږه وو، اوسریې ځړیده - ماویل چه گوندې له کتلو څخه ځان پټوی !
دا یو ډیر ده مینې وړ گل وُ، رنگ ئې ځلاند اودخوشبوئی ډک وُ، یود گل
ښکلی چتر ئې دپټېدلو دپاره درلود - اوس داغوړ شکې شگوفه ده !
په ډیر ښه رنگ ښکلې شوې وه .
اودلته ئې ښه ښه بو یو نه خپرول : تر پټو او گڼو سیورو لاندې -
بې ته ولاړم :
چه دا ښکلی گل و گورم :
ده ماته دودې چم راوښود!
په خوزی تواضع سره !

# خوشحالی

دخوشحالیځای پهجگواو ښکلو قصرونواوپهزرو باندجړاوشوؤ ښکلو کښی نهدی.

خوشحالی پهډیروشتو ،اودولتونوچاته پهلاس نهورځی.-

خوشحالی دتهولدزرنگارجام نوم نهدی. !

خوشحالی دهوسائی دباغ د کومرنگین گل نوم دی.

حقیقی خوشحالی داستغنا،موړستر گیاودخوشحالزړ گی نوم دی اوداشی پهدغوشیانو کښی پټ اومضمردی.

خوشحالی دخواهشاتودمحدود کیدلونوم‌دی، خوشحالیدقناعتاو دخپل زړه څخهدحرص دایستلو نوم‌دی.زه پهخپل حالت ځکه فخر کوم چهزهدحقیقی مسرتخاوندیم‌دجوش‌اوهیجان څخهلاس واخله ځکه چه د اشیانا کثرد انسان دپاره مهلک ثابتیبزی.

دروغوخلکوسره ناسته‌ولاړه کوی، اوداځکهچهروغتیاهم در نځورتیا غوندی متعدی شی دی پهټولوجواهرو کښی لعل ډیرقیمتیشیدی لیکن معدنی لعل چه‌تر شوپوری صیقل نشی دهغهحقیقی رنگ او جوهر نه معلومیږی بایدمونږخپلې خبری اتری اوخپل کا رو نه هم صیقل کړو اودهغوی حقیقی رنگ اوجوهر ښکاره کړو.

لکه څهرنگهچهدعلم دریاب یو ناپایاو اونامحدوده دریاب‌دی، هم‌دغه شان‌دعلم‌دطلب‌دپاره‌لایتناهی زیار اونامحدوده کوښښ په کاردی.

دهرانسان دپارهداخبرهلازمهدهچهخپل ځان‌دروحانی،مذهبی جسمانی سلطانی قوانینوڅخه خبر کړی.

څه نه څه جسماني او دماغي زيار ايستل او کار کول ډير ښه عادت دی زيار او کوښښ د ژوندون معنی او حاصل دی.

په دنيا کښې لوی واړه ټول ژوی د خپل ژوندون د حفاظت او خپل خوراک د حاصلو لو د پاره زيار باسي.

لاس تر زنی کښېنا ستلو او په بيکاری کښې هيڅ ګټه او خير نشته!

ګټه د زيار د باغ ميوه ده او د خپلو مټو ګټه ډيره خوږه او ښه ده او هم داد قدرت حکم او فيصله ده چه څه کار کوي د هغه کار مطابق نتيجه به در کول کيږی او دا پور ته مضمون د دی متل توضيح دی چه: څه کری هغه به ريبې.

# د مرګ سره محبت

زه د هغه شپې نه خبر نه یم کوم وخت چه اول اول زه د دې زندګۍ د دروازې څخه تېر شوم!

هغه قوت څه شي وُ چه زه ئې په دې پراخه راز ګاه کښې داسې وغوړولم لکه په نیمه شپه کښې چه په ځنګل کښې کومه غوټۍ وغوړېږي!

صباچه مې رڼا ته وکاته نو دستي مې محسوسه کړه چه زه په دې دنیا کښې بېګانه نه یم!

او داچه یو بې صورته او بې نومه، یو ناقابل الفهم شي زما د مور په جامه کښې زه په خپلې غېږ کښې واخستم!

دغه شان به د مرګ په حال کښې هم، هغه نامعلوم شي هغه شان را څرګند شي لکه څرنګه چه همېشه ما هغه پېژندلی دی!

او هر کله چه زه د دې ژوند سره مینه لرم نو له دې څخه پوهېږم چه دغسې به د مرګ سره هم مینه وکړم!

هر کله چه مور د خپل ښي تي نه اولاد جدا کوي نو هغه چیغې وهي، لیکن دستي ئې کیڼ تي ته آچوي او غلی کوي ئې!

# دخپل لاس څولانه

ای بندی ووایه:» هغه څو ک دی چه ته ئې بندی کړی ئې ! »-«
هغه زما باداردی »بندی وویل ،»زما خیال ؤچه زه په دولت او قوت له هر چا څخه زیاتیدی شم . ما په خزانه کښې هغه دولت راجمع کړ چه خپل بادشاه ته می ور کاوه هر کله چه خوب راباندی غالب شو ، نو زه دخپل بادار په بستر کښې پریوتم . څه وقت چه ویښ شوم و می لیدل چه په خپله خزانه کښې بندی یم. »!

ای بندی ماته ووایه »دا څو ک ؤچه دانه ماتید ونــکی ز نځیر ئــی جوړ کړ !»

بندی وو یل : هغه زه یم چه دا ز نځیر می په ډیر ا حتیاط تیار کړ ، زما دافکرؤ چه نا پړه قوت به ټول ه دنیا مــقیده کړی ، او یو ازی ما به په بی زواله آزادیء کښې پریبږدی نو په دغه لحاظ مادشپې او ورځې په زیار ،سخت اور او دظالمانه پلکو نو وهلو په مدد دا ز نځیر تیار کړ ، کوم وخت چه جوړ شو ، او کړی ئې په سبه شان سره مضبوطی شوی ، نو و می لیدل چه هغه ز نځیر زه را گیر کړی یم !»

# د آزادۍ جنت

هلته چه زړه نه وير يږي؛ او سر نه ټيټوي !

هلته چه علم آزاد دی !

هلته چه دنياد کور گيو په تنگو ديوالو نو نه ده ماته او ټو کړې ټو کړې نه ده شوې!

هلته چه الفاظ در ښتينولۍ د عمق څخه راوځي !

هلته چه سعی په استقلال سره خپل وزرونه د تکميل د پاره خپر وي !

هلته چه دعقل صافه چينه د بيکاره دودونو په وچ شگلن بيابان کښې

خپله لاره نه ورکوي

هلته چه نفس د تل پراخيد ونکی تخيل او عمل پسې ځي !

ای څښتنه د آزادۍ په هغه جنت کښې زما ملک بيدار کړه !

# عبادت

دانغمه‌اوسرود، داورد اووظیفه پریبزده‌در وازه‌بنده کړه ،دخا نقاه په‌یوازې‌اوتیاره گوټ کښې‌ته‌دچاپرستش کوې؟ستر گې‌وغړوه،وګوره چه‌ستاخدای تاته‌مخ‌نه دی؟

دی‌هلته‌دی چېرته‌چه دهقان‌په‌بنجره‌ځمکه کښې قلبه کوی ! هلته چه منز دوړ لوی پېټی په شا اخستی وړی یې ، دی په گر مۍ ا ویخنۍ کښې‌دهغوی سره‌دی!

دخپلو تخیلاتو نه راوو ځه،دغه گلان او بخوراتیو خوا کېږده څه‌پروالری که‌ستاجامی شلیدلی اوخچنی وی ؟ هغه سره‌یو ځای شه ، اودزیاراودزحمت‌دوچړلی‌دخو لوسره‌وهغه‌ته‌ودریږه!